# پښتون

د ژوند په ټولو چارو نظرلرونکې
اوونیزه مجله

په راتلونکې گڼه کښې

پښتو ژبه
باچاخان
ارباب سکندرخان
معاشیات
اویس منظر
پښتون رهبر
او پښتو ټټه
مرتضیٰ شاهین
یوځیدی
دغه
مجرمانو ډائری
چې ئې هرقدم
سقراط
اداره
او نور ډیر
څه

جلد :- ۱
شمیره :- ۱
کال سنه ۱۹۸۹ء
اکتوبر ۸ اکتوبر پورې

په اوسنۍ گڼه کښې

پښتونستان
او ریفرنډم
عبدالولی خان
ډاکټر سالار خان
پښتو او
پښتونولي
د پښتو
پښتو
محمد پرویش
پښتو
لیک دود
د پښتو
مجرمانو ډائری
یوځیدی
ماسټر عبدالکریم
پاکه
پانړه
چې ئې هرقدم
سقراط
اداره
او نور
ډیر څه


مسئول مدیر :- خان عبدالولی خان
مدیر :- سید میر مهدی شاه
مهدی
معاون مدیران { لطیف وهمی
مرتضیٰ شاهین
ادارتی شعبه { اجمل خټک
پروفیسر جهانزیب نیاز

خبریال :- خسرو کلیم
عکاس :- شوکت رحمٰن خلیق
د کتابت د څانگې نگران } :- محمد طیب
تقسیم کار ناظم
د اشتهاراتو ناظم } زبیر علی شاه

د ملک نه بهرنی نمائندگان
امریکا :- افتخار افریدی
مغربی جرمنی :- رسول خان محسود
متحده عرب امارات :- محمد حسین آفریدی
د سرپاڼې د شعرونو کتابت } :- طلا محمد طلا

لیکوالی د رکه
پښتون نذر باغ فلیټ
پېښور
فون نمبر ۶۰۴۸۳

د ملک نه بهر کالنۍ بیه
بهارت :- ۶۰ ډالرونه ، انگلستان :- ۶۰ ډالرونه
افغانستان :- ، امریکه :- ۶۰ ډالرونه
متحده عرب امارات :- ۲۰۰ درهمه ، غربي جرمني :-
۶۰ امریکنی ډالرونه

د کلهون بیه
کالنۍ } :- ۲۰۰ روپۍ
د یوې گڼې بیه :- ۶ روپیه
میاشتنې بیه :- ۲۲ روپیۍ

یادگیرنه :- مالی تعاون د پاکستانی کرنسۍ په شکل کښې د هاغه بانک په ذریعه کوئ چې په پېښور کښې ئې څانگه وي

شروع کوم په نامه د هغه لوی خښتن چه ډیر مهربان او بخښونکې دی

ادارية

# مشال

انور علی
کتاب کا نام ____
سیریل نمبر ____
فون نمبر 0335-3199661

## زه او پښتون

په جیلخانه کښې ما د خپل قوم په حالاتو په ښه شان سره غور کړې ؤ. زه په دې نتیجه رسیدلې وم. چې په دنیا کښې هیڅ یو قام د خپلې ژبې نه بغیر ترقی کولې نۀ شی. او په هغوی کښې علوم او فنون پیدا کیدې نشی. ما دا اراده کړې وه. چې ضرور به یوه رساله په پښتو کښې د خپل قوم د پوهولو، د دنیا د حالاتو نه د خبرولو او د خپلې ژبې طرفته د مائل کولو دپاره جاری کوم. چې انجمن په خپله ژبه کښې د بچو دپاره د ابتدائی تعلیم انتظام اوکړې. حقیقت دا دې چې دغه وخت په پښتو ژبه کښې هیڅ نۀ وو. او نۀ پښتو ژبه د چا یاده وه. او پښتون دومره ناپوهه او نادانه وُ. چې خپله ژبه ورته سپکه ښکاریده. او چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شی نو هغه قوم سپک شی. او چې خپله ژبه ترې ورکه شی. نو هغه قوم ورک شی.

د جیل نه د راتلو سره ما دا دواړه خبرې انجمن ته پیش کړې. انجمن ورسره اتفاق خو اوکړو. لیکن د مالی مشکلاتو په وجه ئې پرې عملی قدم فوراً اخستلې نه شو. د رسالې د چلولو ذمه واری ما پخپل سر واخسته. او عبدالاکبرخان او عبدالله شاه ته دا خبره حواله شوه. چې د رسالې د جاری کولو اجازت نامه دې د حکومت نه واخلی. لیکن په مینځ کښې درې کاله تیر شو. او زه پوهه شوم چې بغیر زمانه دا کار نشی کیدې. نو د کال ۱۹۲۷ء په اخر کښې ما ورته پخپله ملا وتړله او دا کار مې پخپل لاس کښې واخستو. د اجازت نامې دپاره مې حکومت ته درخواست ورکړو. اجازت نامه مې حاصله کړه. او په اپریل ۱۹۲۸ء کښې مې د پښتون په نوم یوه رساله په پښتو ژبه کښې د اتمانزو نه جاری کړه. ولې افسوس خو په دې دې چې پښتون دومره لوئ قوم او خدائی ورله د نعمتونو او دولتونو نه ډک ملک ورکړې دې نۀ د دۀ خپله ژبه کښې یوه رساله شته او نۀ یو اخبار شته. پښتون د پښتو ژبې اولنۍ رساله ده. چې د پښتو په ملک کښې جاری شوه. پښتون قوم ډیر خراب دې لیکن دې قسم څیزونو باندې خرڅ کولو سره ناآشنا او نابلده دې ډیرې پیسې پرې ماد خپل جیبه خرڅ کړې.

1928

ذني رسالې د پښتنو په ښځو او نرو کښې يوه نوې ژوندون پيدا کړه. او په پښتنو کښې ډيره هردلعزيزه شوه.

دا ملک خو پرېږده. چې په يورپ، امريکه او اسټريليا کښې پښتانه د ديته خبر شو نو هغوی په غوښتنه او امداد يې هم ورسره کړلو د پښتنو پښتو طرفته شوق پيدا کړو. په افغانستان کښې هم ښه لوستل کيده.

عبدالهادی خان داوی ماته خبره کوله. چې پښتون اخبار کابل ته راغې په قوميت چې پکښې کوم مضمونونه ليکلې شوی وو. هغه به مونږ لوستل. او په افغانستان کښې د خلقو هم پښتو طرفته رغبت زيات شو او په امان‌الله خان خوئ دومره اثر وشو. چې هغه اعلان اوکړو. چې خلقو له پکار دی چې پښتو ژبه زده کړی. دری کاله پس به په دې ملک کښې پښتو تعليمي او سرکاری ژبه وی.

عبدالهادی خان دا راته هم اُوئيل چې مونږ هم د يوې رسالې بنا وکړه او د هغې نوم موږ پښتون کيښو دو. خو امان الله خان راته ووې چې د پښتنو به بس هم دغه يو پښتون وي نو ما بيا هغې خپلې رسالې له د "پښتو ژغ" نوم کيښو دو. خو افسوس چې پيرنګيانو دا خبره برداشت نکړې شوه. د دې (پښتو ژغ) څو نمبرې ووتې چې افغانستان کښې بغاوت وشو امان الله خان لاړو او د هغه په ځائې "بچه سقاؤ". د څه وخت دپاره د افغانستان په تخت کيناست.

اخستې شوې "زما ژوند او جد وجهد"




پښتون مجله يواځې په دغه خبره د ستائنې ورنه ده. چې دغه مجله باچاخان چلولې ده. بلکه د باچاخان د وينا مطابق (سره زمونږ د تحقيقه) د پښتو وړومبۍ مجله ده. پښتون اخبار په داسې حالاتو کښې د پښتو ژبې او قام خدمت کړېدې. چې پيرنګيانو د هغه وخت د بعضو مليانو او پيرانو په ذريعه پښتانه بې تعليمه ساتل او که څه تعليم يې ورکولو نو هغه هم د فارسۍ اردو او انګريزۍ ؤ. او نتيجه

CamScanner

بې داوه چې پښتانهٔ نه صرف دا چې د خپلې ژبې په لوستلو او لیکلو څهٔ پوهیدل. خو که څوک پوهیدل نو هغوی ته هم خپله ژبه لوستل او لیکل ډیره د شرم خبره ښکاریده. او هم دغه پښتون رساله وه چې پښتنو ته یې خپله ژبه ورازده کوله، او ورسره ورېږ یې د پښتنو نه د هغو رسمونو او رواجونو د ویستو کوشش کولو د کومو په وجه چې پښتانهٔ په تربورولو خپلونو تپو قبیلو تقسیم شوی وو. او خپلو کښې د یو بل دښمنان وو. او د دوی معاشی او اقتصادی حالت ئې تباه کړې ؤ. او دوی ته ئې په پوره کښلې طریقه د اتفاق ورورولی تعلیم تجارت کرونده‌کرنه او نورو کښو ئټه اصلاحکانو سبق ورکولو او خپلواکی ته یې چمتو کول او ځکه پیرنگیانو دغه مجله وخت په وخت بندوله د کال ۱۹۲۸ء د اپریل نه د ۱۹۴۷ء د آخر پورې درې کرت بنده کړې شوه.

د مختلفو سیمو د قربانو په نتیجه کښې چې ولې د پښتنو او د نور نادیشلی هندوستان اویشلې شو، او په پاکستان کښې د ملک ازاد کړې شو. او د کال ۱۹۴۷ء د آخر نه چې مسلم لیګ یو جماعتی حکومت جوړ کړې شو نو د باچاخان د ډیرو کوششونو باوجود د هغوی پښتون بند کړې شو. نو د باچاخان رښتنی سیاسی وارث خان عبدالولی خان ته د وفات نه پس د باچاخان میاشت کښې پښتون د بیا جاری کولو اجازت په کال ۱۹۸۹ء جولائی ورکړې شو.

د پښتون ادارې د مجلې زوړ، تاٰتیل ځکه بحال وساتلو چې د مجلې، د روایتی اغراض او مقاصدو سره د نوو حالاتو د غوښتنو په رڼا کښې هم د دغه سرپانې د لاندې د پښتنو خدمت جاری اوساتلې شی. د پښتون اجرا د باچاخان هغه بنیادی یادګار دې چې بواځې پرې باچاخان یاد نهٔ دې بلکه د هغو ټولو پښتنو یادګار دې کومو چې د باچاخان سره مکمل ملاتړ کړې دې. البته د دغه یادګار په قائم او ملک ساتلو کښې د ټولو پښتنو د پوره ملاتړ اٰس هم ضرورت دې. او پښتون د پښتنو نه د مکمل ملاتړ طمعه دار دې.

( اداره )

## دَ لیکوالو په نامه خط

ښا غلیو،

گرانو لیکوالو!!

دَ پښتون ادارې له خوا دَ مینې او خلوص سلامونه قبول کړی. لکه چې دَ باچا خان یادګاری پښتون مجله ستاسو په لاس ده. تاسو ته دَ قلم دَ ملاتړ په کلکه بلنه درکوی. او طمعه لری چې پښتون مجله به تاسو دَ پښتون قام دَ پاره په خپلو سپیڅلو خیالاتو دَ قلم په ذریعه دَ پښتنو په موجوده مضوعي شپه کښې نوی مشالونه کړی. اداره ستاسو دَ قلمی مرستې په انتظار ده.

والسلام

مدیر

# پیرزونې

باچاجی . تازمانه دپښتون دپاره
پیغام غوښتې دې . پښتون ټخیله پښتنوته
دپښتوژبې سره مینې دپښتنو دروولې
خپلوکښې دیوموتهې کیدو دشپونکی او
تصاب دپیژ ښکلوادیوآواز او یو
قدم یوداسې پیغام دې چې پښتنو پرې
دبابا په خله یوواري عمل کړې دې
نودپیرنکی غونډې طاقت لې دوره
کړیدې. البته دپښتون دا اوسنۍ اجرازه
دبابا وصیت پوره کول غوارم.

بابا چې دبمبۍ نه مونږ دهلی ته
راوستو. لږ ښه په سرکښې وماته لې
وویل -

ولې ! دسیاست نه څه جوړیږی
نه ماته خلقو وویل چې ستا کتاب ډیر
کار وکړو. که دخپل کتاب دغه دویې
برخې ته دِ مخه کړه . لږډیر کار به وشی
او په کتاب چې څه خرڅ راشی هغه پما !
ماورته ووویل بابا زه خود مخښکې نه دقلم
سړې ووم . سیاسیت ته خوزه مجبورکړې
شوې یم. زه بالکل قلم ته مخه کوم خو
زمونږ د پارټۍ انتخاب کیدونکې دې
دغه نه مې خلاص کړه.

باباماته ډیر په مینه وکتل
اوراته لې وویل -
ولې رښتیا وایې !
ماورته وویل

هو بابا
هغه لاس را مخکښې کړو راته وویل
واچوه لاس
مالاس ورکړو
دشپې پرې فالج حمله وکړه

او دغه ماته دبابا یووصیت پاتې شو چې زه
دخپل نورقلمی خدمت سره د پښتنو زلمیانو
پیغلو او بچونه دپښتون رسالې په شکل کښې
پوره کوم او هیله لرم چې پښتانه هرځای وی
نودبابا دوصیت په عملی احترام کوی .
"ستاولی"

باچاجی : دپښتون رسالې اجرا خوزه داسې
گڼم لکه چې بابا په مړونی دپښتون
قوم د ژبې ادب اصلاح او ترقۍ ته ملاتړلې
وې . قومونه هله قوم کیدیشی چې د هغوې
ژبه ژوندۍ وی . د قامونو پیژنگلی په ژبه
کیږی دا بابا داخبره بالکل ناقابل انکار
حقیقت دی .

* * *

چې د کوم قام ژبه سپکه شی نوهغه قام سپک شی
او چې د کوم قام ژبه ورکه شی نوهغه قام ورک شی .

* * *

با باچې د پښتون قام د هرقسم اصلاح ته
ملا تړلې وه . نو هغوې پوه وو . چې پښتنوته
د خپلې ژبې داهیت ښکاره کولو سره ځخپله .

/ 421 /

زیه کښې دَ علم ورکونو ډیر زیات ضرورت دې. او بله خبره چې دَ پښتو مخالفو رجیمونو بابا دَ پښتو خدمت ته نه پرېښودو دغه شان یې دَ پښتون دَ قانون په شکنجو کښې بند ساتلو اُس ستاسو ذهن دې چې دَ پښتون نه هغه کار واخلئ کوم چې نن یې بابا او ملګرو اخستو او پښتنو له هم پکار دې چې دَ پښتون په رڼا خپلې هر قسم تیرې رڼا کړي. زما د طرفه مبارک قبوله کړی.

نسیم ولی

## دافغانستان دَ جمهوریت جمهور رئیس داکتر نجیب الله پیغام.

دَ نړم کالو اوږدې مودې اجباري او ظالمانه توقف نه وروسته دَ "پښتون" مجلې دَ بیا دَ سر نه پیل کیدو له امله زه دَ خپل ځان، ګوند، حکومت او خلکو له خوا تاسو ټولو لروبرو افغانانو ته، دَ خدائي خدمتګار نهضت پیروانو ته او دَ مجلې دَ تحریر هیئت ته د زړه له کومې مبارکي وایم. او دا کار یو داسې بختور او تاریخي ګام بولم چې زمونږ اوسني او راتلونکو نسلونو ته به یې دَ خپلو ارمانونو دَ هیندارې په حیث ویاړ او فخر کوی. د "پښتون" مجلې اهمیت په دې ټکي کښې نغښتی دی چې د افغانانو د اوسني عصر تر ټولو ستر شخصیت فخر افغان خان عبدالغفار خان یې بنیادي کار کړی او هغه یې لومړی مسئول مدیر پاتې شوی دی نوموړې مجلې دَ خپل لومړني موجودیت په کلونو کښې د لروبر پښتنو ازادي غوښتونکي نهضت یعني خدائي خدمتګار تحریک ته لار ښوونه کړې ده. او دَ یو سازمان ورکوونکي او ارګان په حیث یې پښتانه منظم کړي او شعوریک

مقصد په لور هڅولي او راپاڅولي دي. هغه ټولنیز او سیاسي اهداف چې دَ مجلې دَ مبارزې په سرخط کښې واقع وو، بې له شکه ستر تاریخي اهمیت لري، مګر دې سره سره "پښتون" دَ پښتو ژبې او ادبیاتو هم ستر خدمت کړی دی او لروبرو اولسونو دا اړتیا پوره کړه او هغوی ترمنځه تفاهم او پیوستون له پیاوړي کولو په لاره کښې یې خپل شایسته رول لوبولی دی. زمونږ په اوسني افغانستان کښې، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او کلتوري اهدافو ته متوجه ټول جنبشونه چې یکې زمونږ ګوند هم شامل دی د "پښتون" مجلې د خپرونو دَ تاثیر لاندې راغلي دي او دَ هغوی پاملرنه یې هغه مقاصدو ته راړولې ده، کوم چې به "پښتون" پرمخ بیول. دَ "پښتون" مجلې په داسې وخت کښې بیا دَ سره په خپلو خپرونو باندې پیل کوي چې زمونږ خلک یعنې ستاسو هر افغانان ورو نه دَ تیرو یوولسو کالو راسې دَ بهرنه تپل شوی جګړې له امله ستړي شوي دي سولې او ارامتیا ته لیواله دي او غواړي چې څوک یې په پرهرونو باندې ملهم کیږدي مګر متاسفانه زمونږ دَ سولې دَ پاره دَ ډول ډول پیشنهادونو سره سره دَ پاکستان حکومت چې ورسره دَ امریکا او سعودي وهابیانو فعال ملاتړ ملګري دي په ځای دَ دې چې دَ سلیم عقل نه کار واخلي، خبرو اترو او روغې جوړې ته تن کیږدي. دَ ژینو تړونونو نه رعایت کړي او بین المللي قوانینو او دَ ملګرو ملتونو فیصلو ته غاړه کیږدي. نه صرف دَ ژینو تړونونو څخه غاړه غړوي بلکه زمونږ دَ هیوا د پر ضد یې پراخ تیري ته ملا تړلې ده. پاکستان نه پریږدي. چې افغانان په خپل کور کښې سره جوړ شي. بلکې غواړي چې په افغانانو باندې دَ آی ایس آی له خوا جوړ شوی ګوډاګی

حکومت وروتپی او کابل دَ اسلام آباد تابع
وګرځوی. دې هدف ته رسیدو دَ پاره
دَ پاکستان واکدارانو په جلال آباد دباندې
بوپراخ یرغل ته سازمان ورکړو. مګر زموږ
دَ هیواد قهرمانو خلکو دغه یرغل په شا وتمبولو
ددغه شرمونکې ناکامۍ نه پس اوس پاکستان
دَ افغانانو افراطی او نه پخلا کیدونکی دښمنان
هڅوې چې په ښارونو او په تیره بیا په
کابل باندې درنډو راکټونو ډزې وکړې
او د بې ګناه او بې دفاع خلکو عامه
وژنه وکړی

دغه راکټونه اکثراً په بازارونو، مکتبونو،
جماعتونو، مقدسه اماکنو، کورونو او
دکنی ګونې نه ډک ځایونو باندې ورتو
غورځیږی او ماشومات، ښځې او بوډاګان
وژنی.

زه باور لرم چې د «پښتون» مجله
به نوروو ژمانتدو خپرونو سره سره د
لر او بر افغان وروو دګډو دښمنانو
توطئې او د سیسې افشاء او رسوا کوی
او افغانستان کښې د امن او سولې دتأمین
په خاطر به خپلې هلې ځلې
نه سپموې او د لرو او برو ګسو نزدلو پښتون
او دَ یوالی دَ پاره به خپلې مبارزې ته
دوام ورکړی :

په پای کښې یوځل بیا تاسو ته مبارکې وایم
او یقین لرم چې «پښتون» به هغه وظائف
ترسره کړلو دَ پاره په بریالیتوب سره کوششونه
وکړی چې ورته دَ پښتنو دَ ازادۍ بخښونکې
نهضت له خوا ورسپارل شوی دی. په دې
برخه کښې ستاسو برې دَ لوی خدای دَ دربار
څخه غواړم

نجیب الله
دَ افغانستان دَ جمهوریت جمهور رئیس

## دافغانستان جمهوریت دَ سرحدونو چارو وزیر سلیمان لایق پیغام

د «پښتون»، د تحریر هیأت
ګرانو دوستانو او همکارانو !

ددې خبر په اوریدو سره ډیر
خوښ شوم چې زمونږ لرد. هم سنګر ملګرو
د «پښتون»، د بیا لمسره داجراء . تصمیم
نیولې دی. د افغانستان دجمهوریت حکومت
ګوندې ملګری لیکوالان او دلر نهضت
سره بلد ټول افغانان د «پښتون»، د
تاریخی، سیاسی، ټولنیز او ادبی اهمیت
نه واقف دی او هغوی لیواله دی چې
«پښتون»، دخپلې مطالعې او کتابخانې
دپاره ترلاسه کړی. زه دهغوئ ټولو
په نمایندګۍ تاسو ته مبارکې درکوم.
توفیق درنه غواړم چې «پښتون»
دلوم حیثت سره برابرې د نندې په
بریالیتوب سره ترسره کړئ او ژمنه کوم
چې د افغانستان جمهوریت لیکوالان به د
خپل توان سره سم ستاسو مجلې سره خپله
همکاری وکړی.

«ستاسو ورور»
سلیمان لائق
دافغانستان جمهوریت د سرحدونو
چارو وزیر

## سالار امین جان خان

دَ باچا خان په پښتون قام یوا ځې نا بلکه په
پاک او هند ډیر احسانات دی. ځکه چه باچا خان په
پښتنو کښې یو سیاسی شعور را پیدا کړی او. چې په نتیجه
کښې یې ازادی واخسته. لیکن باچا خان قدرت دَ پښتون

د راضا چې دپاره پیدا کړې وو. باچاخان تونبتل چې پښتانه دې د جهالت د تیروته د علم رڼا ته راوړي.
پښتون مجله م د دغه مرض دپاره باچاخان جاری کړه. پښتون سره ډیره خواری اُشوه. خلیق صاحب پخپل سر په کلوګرځولې ده. باچاخان په جلسو کښې پخپله خرڅه کړې ده. خدائی خدمتګار تنظیم هم هرځائ ته رسولې ده. او حقیقت دا دې چې ننن پښتو اخبارونه شته په سکولونو کښې پښتو بچو ته پښتو ښودلې شی. په پښتو ژبه کښې ایم.اے کولې شی. دغه ټول د خدائی خدمتګار تحریک او پښتون مجلې کارنامه ده.

باچا جی مونږ خو خپل وخت تیر کړو، خو دا دُعا کوو چې خدائی دې توفیق ورکړی، چې پښتون نه د پښتو ژبې او قام دپاره ډیر کار واخلی. ولې هم د ډیرې ستاسې وردی، چې د باچاخان صحی یادګار ته هم توجه اوکړه.

دُعاګو

امین جان د کوچیانو

## صدر محمد اسرار خان کوډی

د باچاخان په پښتون قام ډیر احسانونه دی. چې یو یکښې د پښتون ټوله پښتو مجله ده پښتون مجله یواځې د پښتو ورومبې مجله نۀ ده بلکه د تبیلو په نامه یادو پښتنو ته د یو قام احساس ورکوونکې هم ده. په کوم وخت کښې چې پښتون مجله راوته نو په هغه وخت کښې د مغلو او نورو حکومتونو په وجه زمونږ تعلیم په اردو فارسه او انګریزه کښې وو. زمونږ د کچهرو اوارنامې بیع نامې اکثر په فارسه کښې وی. او ځکه به زمونږ د زمونږ د جماعتونو په درسونو کښې هم پنج کتاب ګلستان بوستان زلیخا سکندرنامه وغیره لوستل کیدُه، پښتانه دومره نورو ژبو سره اشنا شوی وو. چې پښتو ژبه هم نشوه لوستې او دومره ورته انګریزی فارسی اُردو عزتمندې شوې وې؛ چې پښتنو ته په خپله ژبه کښې لیک ولوست ډیر شرم ښکاریدو. مونږ حافظ شیرازی شیخ سعدی غالب وغیره خو پیژندل ولې بغیر د رحمان بابا نه مونږ نورو د خپلې ژبې شاعران نۀ پیژندل. پښتون پښتانۀ خپلې ژبې سره ملیه کړه. د خپلې ژبې اهمیت ورته معلوم شو. ځکه خو خدائی خدمتګارو خپل ټول لیک لوست به پښتو کښې کولو.

زوړ پښتون په نوی دور کښې به یقیناً د حالاتو سیاسیاتو اخلاقیاتو اقتصادیاتو اوداسې د پښتنو د نورو قومی غوښتنو په رڼا کښې په پښتون قام د نوو خبرو شوو تیارو د رڼا کولو دپاره به نوې مثال ثابت شی. زما یقین دې چې دغه پښتون سره به د باچاخان او د باچاخان د هغو ملګرو دعاګانې شاملې وې. کوم چه د پښتون رسالې خدمت په ډیرو سختو وختونو کښې کړیدی.

ولی ته مو هم زړۀ دُعاګانې کوی. چې هغۀ د سیاست په ذریعه د قام د خدمت سره سره د پښتون مجلې خدمت ته هم ملا اُتړله ستا سو ټولې ادارې ته په دغه لاره کښې د کامیابۍ دپاره لوئ غښتنه ته لاس په دعایم.

ستاسو دُعاګو

محمد اسرار د کوډو.

# مشالونه

(۱) د کوم قام چې ژبه سپکه شی هغه قام وروک شي؛

(۲) که سپوږمۍ وی او که پوره وی خوږه شیرینه به وي؛

(۳) زۀ چې دا وادرم چې پښتانۀ یو په بل نشد دکوی نو ډیر خوا شینې شم؛

ارواښاد باچاخان

## جرنیل داد محمد چارسده

دَ باچا خان دَ پښتون سره بې انتها مینه وه. او ځکه به باچا خان په خپلو تقریرونو کښې دا خامخا ویل.

"چې ستاسو دَ پښتنو خپل اخبار وو. هغه هم حکومت بند کړو"

دا منم چې دَ پښتون اخبار نه پس په پښتو ژبه کښې اخبارونه راغلل. دَ پښتو ژبې او قام خدمت ئې هم کړې دې. خو زما دعوه ده. که چرې پښتون دَ پیرنګوالې دَ دور په تیارو کښې خپل حرفونه مشالې کړی نه وی او دَ پښتون لیکوالو که چرې دَ خپل فکر او قلم نه لیتکی نه وی جوړ کړی. نو نن به هم پښتانه په تیاره کښې پراته وو. ځکه چې یواځې دَ پیرنګیانو دَ پښتون قام نه خپل قومیت نه هیرولو بلکه دَ پیرنګیانو نه پس دَ پښتنو دښمنان نور هم زیات شو. ځکه چې پښتون مجلې او خدائی خدمتګار تحریک پښتانه پښتانه کړی وو. او خپل تشخص یې ورته ښودلې وو. نو دغه وخت پښتنو نه بیا خپل قومیت هیرول ډیر ګران کار وو ځکه خو پښتون دُښمنو طاقتونو نه پښتون رساله اُزغملې شوه. او نه خدائی خدمتګار.

دَ باچا خان په ژوند او دَ باچا خان دَ وفات نه پس دَ ټول پښتون قام سترګې به ولی خان لګی او ولی خان هم دَ خپل عمل نه دَ پښتون قام دَ خدمت کلک ثبوت ورکړې دې. دا ښکله خبره ده. چې پښتنو ولی خان سره ډیره بې ننګی اوکړه. او دَ پښتون رسالې اجرا دَ ولی خان دَ خپلې ژبې او قام سره دَ مینې نور ثبوت دې ځکه چې ولی خان به یقینًا پوهه وی. چې پښتنو دَ خپلو حقونو دَ ګټلو دپاره زما ملاتړ آنکړو. خو ولی خان دَ باچا خان ځوئی دې. هغه به دا خدمت خامخا کوی.

او زما خو دا خیال دې چې پښتنو دَ ولی خان سره نا بلکه دَ پښتون قام او ځان سره ملاتړ آنکړو. ځکه چې که دَ ولی خان پارټۍ په مرکز حکومت نشو جوړولې نو لکه دَ ایم، کیو، ایم دَ ملګرتیا نه بغیر چې مرکز کښې حکومت نشی جوړیدې. دغه حیثیت به دَ اے این پی وو. بهر کیف دَ پښتنو دا فرض دی. چې دَ پښتون مجلې مرسته په دغه عقیده اوکړی.

چې پښتون زمونږ خپله مجله ده.

دعا پلاس

جرنیل داد محمد۔

*****

باچاجی!۔ تقریبا لوه خلویښت کاله پس دَ پښتون مجلې اجرا یقینًا دَ کرد پښتون قام دَ پاره زیری دې. دَ پښتون دور خو ما ته معلوم نه دې البته ډیر وارې باچا خان په خپل تقریر کښې دا به فرمائل. چې دَ پښتنو خپل یو اخبار وُ هغه هم حکومت بند کړیدی. دویم دَ باچا خان دَ جرنیل ارواښاد ضیاءالحق چې دَ مارشل ایډ منسټریټر وُ هغه ته یې دَ پښتون دَ جاری کولو وینا کړې وه او خو کرته یې ورته یاداشتونه هم استولی وو او دَ هغه نه یې دَ خفګان په څو نورو وجهو کښې دا هم یوه وجه وه. دَ دغو ټولو خبرو په رڼا کښې زما دا دعوه ده. چې باچا خان دَ پښتون رسالې کمې دَ پښتنو په حقونو کښې ډیر زیات محسوس کولو. زمونږ قائد خان عبدالولی خان د دغه کمی دَ پوره دَ پاره چې کوم زیار ویستی دی هغه ډیر زیات دَ ستائینې دې زما یقین دې چې ټول پښتانه به دَ باچا خان دَ دغه ارمان پوره کولو ډیر قدر او کړی. او د دغې مجلې دَ پالنې دَ پاره به هر قسم امداد په ډیره مینه اوکړې!

بشیر بلور صدر اے این پی پښتونخوا

# پیغام

زهٔ ډیر افسوس سره دا خبره کوم چې مونږ د پښتون فورنډې رسالې د تاریخ نه بالکل بې خبره یو.

زهٔ په درو میاشتو کښې د پښتون رسالې نه هغه وخت خبر شوم چې ما د باچاخان کتاب "زما ژوند او جدوجهد" اولوستو او په هغې کښې مې د دې باره کښې اوئیل.

بیا مې په باچاخان لیکلې شوې کتاب Faith is a battle کښې یو تصویر اولیدو چې په هغې کښې د باچاخان په لاس کښې د پښتون رسالې شماره ده. زما ډیر شوق وه. چې زه دا رساله اوګورم. ولې اوسه پورې مې دا ارمان پوره نه شو. بیا یو ورځ ارباب ظاهر خلیل ووئیل چې ما سره د پښتون رسالې پرتې دي. او زه بې درته راوړم. خو افسوس چې ارباب صاحب هغې نه دوه ورځې پس د بم په یو چاودنه کښې شهید شو. او هغه رساله مو او نه لیده.

اوس خبر شو چې مهدی شاه باچا دا تابیا کړې ده. چې د پښتون رساله یو ځل بیا جاری کول غواړي نو ډیر زیات خوشحاله شو ځکه چې ډیره د افسوس خبره ده. چې د پښتو هیڅ قسم رساله زمونږ په پښتونخوا کښې نشته. او دا د پښتون قوم دپاره یوه ډیره لویه تحفه ده.

نو زهٔ بحیثیت د صدر ډاکټرز ایسوسی ایشن ټولو پښتنو ته بالعموم او ډاکټرانو ته بالخصوص دا خواست کوم. چې هغې د پښتون رسالې سره پوره تعاون اوکړي. که هغه د لیکلو په شکل کښې وي. او که هغه د لوستو په شکل کښې وي.

زمونږ دا دُعا ده چې پښتون رساله هم هغه زړې جذبې سره چاپ شي. او هغه کردار بیا اداکړي. کوم چې په ۱۹۳۰ کښې دې د پښتنو په بیداري کښې اداکړې وه. او زمونږ پښتانه ورونړه ترې پوره فائده واخلي. زهٔ د خپله اړخه د دې رسالې په چالو کولو او کامیابولو کښې د پوره تعاون پیشکش کوم.

شکریه

ډاکټر عبدالناصر خلیل صدر پی ډی اې ایم
حیات هسپتال پېښور

# ودود اشنغرې

د پښتون مجلې د ادارتی ټیم محترمو مشرانو سید میر مهدی شاه مهمندی، مرتضیٰ خان شاهین، لطیف وهمی، جهانزیب نیاز صاحبان

سلامونه :- خبر شوم چې پښتون مجله د نوی آهنګ سره بیا شایع کیږی. باید چې ټول قام خصوصًا پښتانه لیکوالان یې د زړه له کومې په سره او تاوده مینه هرکلې اوکړی. د خپل ستر رهبر، ملی او قامی قهرمان، لوې لارښود باچاخان د تاریخي یادګیرنو او سپړنو په باب له میله ده. چې "پښتون" مجله به ستاسو په رهنمائی کښې خپل ادبي، ملی او تاریخي کردار په ډیره نره او میړانه ترسره کړی. زما آرزو ده. چې دغه د قدر وړ اُودرنه هسه په ډیر ښه ډول پرمختګ وکړی. زمونږ اخلاقی او قلمی مرستې به ستاسو په وړاندې وی.

وسلام

ستاسو کش: ودود اشنغرې

ستاسو عزت، خوشحالی اُو کامیابی، زما عزت، خوشحالی او کامیابی ده.

زهٔ ستاسو په اتفاق او ترقی خوشحالیږم. او ستاسو په نفاق اُو خوارئ خفه کیږم. زهٔ شپه ورځ ستاسو د آبادئ اُو ازادئ دپاره دُعا او کار کوم الله تعالیٰ دې مونږ د دې لائق کړی. چې د هغه د مخلوق خدمت وکړے شو.

د بنوں د خوږو رونړو په نوم د یو خط برخه

(د باچا خان) رحمت الله علیه

# پښتونستان ریفرنډم

لیک :- خان عبدالولي خان

پښتونستان په حقله حکومتي طبقه اګرچه دا الزام لګوي چه باچاخان او لاړو پښتو مشرانو تر هغې وخته پورې د پښتونستان مطالبه نه وه کړې چه کله پیرنګیانو دلته د ریفرنډم د راې عامه منظوري نه وه کړې راځې چه ددې په حقله اوګورو چه د قیوم خان خپل کتاب ریفرنډم څه وائي - د مسلم لیګ د پاکستان د مطالبې په لړکښې په مختلفو سوالونوکښې هغه یو بنیادي سوال هم په دې کتاب کښې پورته کړې دې - هغه لیکي :-

ددې پاکستان د ننه به د مختلفو قومونو او یونټونو څه حال وي؟ پښتانه پنجابیان سندهیان بلوچیان او کشمیریان؛ آیا د صوبه سرحد او قبائلي علاقو پښتنو له به دا حق ورکیدې شي چه د خپل مستقبل فیصله پخپله اوکړي - آیا دا اختیار به لري چه هغوئ لا هندوستان سره لاړ د پاکستان او لا د افغانستان سره خپل تړون اوکړي او لا بیا داچه دا حق به ورته وي . چه هغوئ ځان له یو خپل جدا مملکت جوړ کړي -

یعنې مطلب دا شوچه که لوړ چپا ویلې اوکه ته ویلي کم از کم قیوم خان خو د پښتنو د پاره د خپل یو آزاد مملکت تصور قابود وه کاله وړاندې یقیني کړې وو.

موږ خدائي خدمتګارو دلته د ریفرنډم بائیکاټ په دوه وجه کړې وو. اولنۍ داچه د عام انتخاباتو لا کال هم نه وو پوره شوې او د ذې نه به قیوم خان هم انکار و نکړې شي . چه دا انتخابات د پاکستان د نظریې په بنیاد د مسلم لیګ کړي وو - او تمام خپله فیصله دا انتخاباتو په ذریعه خپلو منتخبو نمائندګانو ته سپارلې ده . نو ددې وجې زمونږ دا راې وه چه که پوښتنه کیږی . نو هم ددغې منتخب شوو نمائندګانو نه دا اوشي . او که ددې باوجود پیرنګي دلته ریفرنډم کول ضروري ګڼړی. نو بیا پکار دی . چه لکه د قیوم خان وینا ذه دا دریم حق د هم پښتونو ته ورکړې شي . چه که هغوئ ځان له خپل یو جدا مملکت جوړول غواړی. نو چه جوړ ئې کړی.

دلته یوه خبره هم یاد ساتل پکار دی او هغه داچه د کله نه تمام کته اوکړله او پیرنګی خپله دا فیصله په کال ۱۹۴۷ء اوډ وله چه هغه د هندوستان نه کیږه نغاړی . او کړه هم ډیره په تیزی سره نغاړی. نو هر یو سیاسی جماعت په دې مجبور وو. چه د ملک د راتلونکی رغونې په حقله یوه قطعی فیصله اوکړی. او دا اختیار هر یو سیاسی ډلې ته حاصل وو. چه د خپلې سیاسی تجربې په رڼا کښې تمام ته لار ښودنه اوکړی او که مسلم لیګ ته دا حق حاصل وو. چه هغه دې د هندوستان نه ځان له یو جدا مملکت مطالبه اوکړی. نو په نورو سیاسی جماعتونو دا بند یز چا لګولې شو؟

موږ خدائي خدمتګارو دلته د ریفرنډم

14 27

و لته کله چه پیرنګی دا بند یزا اوګوړ او اعلان ئې اوکړلو چه ریفرنډم په صرف په هندوستان او پاکستان وی. نو مونږ دا مطالبه په ټینګه اوکړله چه دلته ریفرنډم سوال نه پیدا کیږی ولې چه مونږ خدائی خدمتګاروړد کانګریس سره په ملګرتیا کښې د هندوستان د تقسیم تجویز قبول کړې دې. او دا فیصله شوې ده چه پاکستان په جوړیږی. نو بیا د ریفرنډم څه ضرورت دې؟. خود پیرنګی عرض خو پوائې چه پاکستان جوړیدلو نه ترمره کیدلو. هغه خو د خپلو دشمنانو نه بدلې اخستې. هغه پوهه وو چه د پیرنګی د هندوستانی سلطنت په خلاصیدلو کښې د خدائی خدمتګارانو څومره لاس وو. او هغه دوی دلته د هندوانو د ملګرو په نامه معرفی کول غوښتل او دیځوائې د مسلم لیګ خوله کښې داخبره اچوله. چه صوبه سرحد هغوئې د ریفرنډم په ذریعه ګټلې دې،

حقیقت دا دې که مونږه واقعی یو آزاد او خود مختاره ریاست غوښتلو نو هم ددې ریفرنډم په ذریعه دا کار په دا شان ترسره کیدې شو. چه مونږ د هندوستان په آئین سازه اسمبلۍ دا تجویز پاس کړې دې چه کله چرې په دې ریفرنډم کښې د صوبه سرحد خلقو د هندوستان سره د ملګرتیا ووټ ورکړلو. بیا هم په هندوستان د دغه صوبه ټنې خود مختاره کړی. او ددې فیصلې په رڼا کښې بیا مونږ تمام ته دا مسئله داسې پیش کړې وې چه په ریفرنډم کښې هندوستان له ووټ ورکول د خود مختارۍ او آزادۍ د پاره ووټ دې. دا مونږ کولې شوځو دا مونږه اونه کړل.

په قیوم خان بل سوال دا اوشو چه ریفرنډم کښې دوه ټولو شمیر څومره وو

د هغې جواب هغه صرف دا ورکړلو چه حکومت برطانیه د هغه شمیر د پاکستان سره شمولیت د پاره کافی اوګنلو.

شمیر دا شان دې.

| | |
|---|---|
| ټول ووټونه. | ٥،٧٢،٧٩٩ |
| ټول پریوتی ووټونه. | ٢،٩٢،١١٨ |
| پاکستان په حق کښې | ٢،٨٩،٢٢٤ |

یعنې د پاکستان په حق کښې صرف ٥٠،٥ فیصد ووټونه پریوتل.

د باوجود ددې چه دومره ډیر جعلی ووټونه په کښې پریوتی وو. چه د هغې مثال نه وو. د دنیا ته معلومه ده چه هیڅ یوه آئینی او قانونی طور جوړه اداره دا دومره کم اکثریت د فیصلې په طور نه قبلوی.

ولې مونږه بیا هم په دې اعتراض اونکړلو. ولې چه ددې ریفرنډم د تکلف هیڅ ضرورت نه وو.

لینن پخپل کتاب کښې لیکی چې د سنه ١٩٠٥ء د انقلاب زمونږ ډیری ملګری مونږ سره د سنه ١٩١٧ء په انقلاب کښې نه وو. بلکه زمونږ مخالف وو. ولې چې په دغه وخت کښې هغوی وکیلان، ډاکټران، انجنیران جوړ شوی وو. او وړوکی سرمایه داران شوی وو. د خلقو ازادی خوښه وه خپله بادشاهی غواړی. خو ولې د هغې د پاره کار کولو ته تیار نه دی:

د باچاخان رحمت الله علیه د یو خط څخه برخه: ٣٦-٨-١

# پښتون او پښتونولي
## مُکمّل ضابطه حیات

ډاکټر سالار خان

هسې خو په نړۍ کښې د مختلفو قومونو د ژوند د پاره مختلف معاشي او اولسي ضابطې او نظریې متاکلې شوی دی دا نظریې د اشتراکیت یا سوشلزم په نوم یا دیږی. یا سرمایه دارانه نظام په نوم دا دوا سره نظریې د نړۍ په مختلفو ریاستونو کښې رواج لري او د دغه قومونو د پاره دغه ضابطه حیات یعنې د ژوند دستور حیسابیږي ځنې خلق هم مکمله ضابطه حیات ګڼي اګرچه ضابط حیات یعنې د ژوند رواج او دستور د حالات او د وخت مطابق بدلیږي را بدلیږی هم په دغه دود پښتو زمونږ د قام ژبه ده بلکه دا د ژوند سیاسي او ثقافتي او معاشي دستور هم دې چه هغې ته مونږ د ژوند یوه بیشپړه ضابطه هم ویلې شو اګرچه د پښتو روایات امتوګنه او معاشي ژوند د سوشلیسټ نظام سره سمون او مطابقت لري یعنې څه موده مخکښې په پښتو کښې زمکه کلې یا علاقه د یوې قبیلې یا د فرد ذاتي ملکیت نه وو. بلکه هر لس کاله پس د قبیلو ترمنځه خسنړې رقرعه اندازې ، کیدو- اوګرم کلې یا علاقه چه په خسنړې کښې د کومې قبیلې او رسیده . د هغې قبیلې د ټولو ګروپه ګډه به دا برخه وه . او په ګډه به

په خپل استعمال کښې راوستله او دغه شان هر لس کاله پس به دا علاقې او کلی بدلیدل . هم په دغه رنګ د کلي زمکه جایداد د یو ګړي یا د یو خاندان پرتې ملکیت نه وو . خو چه کله به غله تیاره شوه نو د هقانانو به ترې خپله برخه واغستله . مُلا . نائی . کلال . لوهار . ترکان . موچي عرض دا چه ټولو کسب ګرو چه د ټول کلي او لس کسب به یې کولو خپله خپله برخه وا غستله . د کلي مشر یا سپین ږیری به د عزت او احترام جوګه ګڼلې شو او هغه به په ریښتیا او ایماندارۍ د خلقو منځه ګړي او منصف وو . د کلي او علاقې فیصلې به قامي مشرانو په ګډه کولې دیته به ئې قامي جرګه ویله د پښتنو په ډیرو علاقو کښې دا جرګې اوس هم کیږې دغه رنګ د یو خاندان ټول غړي به په شریکه یو کور کښې اوسیدل او د دې ټولو خوړل ، څښل او اغوستل به یو ځای کیږو وو .

د پښتنو د معاشرې خپل څه روایات وو . او هغه اوس هم دی اګرچه څه موده کیږې چه دا روایات د خارجي یلغارونو په وجه ترڅه حده خوزیدلي دي . زمکه

جایداد افرادو ته مخصوص کړي شوی ده . یعنې ملکیت ذاتي ګرځولې شوې دې . اګرچه د خاندان په تو ګه د اشتراکی طرز ژوندون لا تراوسه جاري دې . خو اصلی پښتو او پښتونولي ډیر لږه مومندې شي - ولې چه پښتنو په ثقافت ، کرد اوړو . او د اولسي ژوند په قاعده کښې د مختلفو حملو او دوله خوا ګډون شوې دې او د پښتو اصلی حیثیت یې تر ډیره حده بدله کړې ده . او د پښتنو په ډیرو کو علاقو او قبیلو کښې د پښتنو اصلی رواجونه سالم پاتې دي . خو د مشرانو د خولې چه قیصې د اورو . او د پښتو ښیره تلونه چه را مخکښې کړو . نو د دې نه د پښتو د اشتراکي ژوند او جمهوري طرز ژندګی ثبوت تر لاسه کیږي "متلونه"

(۱) ژړند که د پلار دی ده خو په وار دی دی دا متل د برابری او مساوات ثبوت ورکوی ....

(۲) غرکه لوی دې په سری لاره ده " یعنې د پښتنو په معاشره کښې هیڅوک هم د قانون نه بالا تر نشته .

(۳) چه بد کړې - بد به پرې ځې "

(۴) چه ښه کړې . هغه به ریبې "

دا رنګ نور ډیر متلونه موجود دي . مینه ، وفا . پت . زړه ورتیا مړانه . شیګړه . انصاف . او

ملسنیا د پښتو مشهور صفتونه دي. لکه څنګه چه د لفظ "پښتون" د جوړښت یعني. پ. ښ. ت. و. ن. نه په دې شان جوګه ده. "پ" نه مطلب پت دې. چه پښتون یو ځل چاته دوست یا ورور وائي نو تر مرګه دا دوستي او ورورګي جاري ساتي.

"ښ" نه مطلب ښیګړه هر پښتون د بل انسان سره ښکې او مروت کول خپل نصب العین او د ژوند نښکین ګڼي.

"ت" نه مطلب تورکه ده. د پښتون مړانه او ډزره ورتیا په ټوله نړۍ کښې شهره لري. او پښتون د ډیر زوره ور او بولاسي دښمن په وړاندې په لاسانه سرنه ټیټوي.

"و" نه مطلب وفا. پښتون خپل لوظ او وعده پوره کول ډیر ضروري او اهم ګڼي. بې وفائي ورته لوئي شرم او ګناه ښکاري.

"ن" نه مطلب ننګ. په خپل ننګري او خپله خاوره ننګ کول د پښتون بنیادي اصول دي. اګرچه د پښتون دا وصف به ډیرو لږو پښتنو کښې اوس موندې شي. ځکه چه د خارجي ثقافت د یلغار او د استعماري سازشونو دسترس ذیاره له کبله د پښتنو د ثقافت د بدلیدلو اوناولي کیدلو کوشش روان دې او د پښتون قوم د ختمو لواوولو کولو کوششونه جاري دي او دغه وجه ده چه دښمنانو پښتون قوم په لراو بر منیځي او سوځېلي خلور برخوکښې ویشلي دي او ډیر پښتانه په دې هم نه وي خبر چه په بهرنئ نړۍ کښې مونږ په خپل اصلي یعني د پښتون په نوم نه پیژني. فارسي خوان یعني ایرانیان او عربیان مونږ ته افغان وائي. انګریزان او هندیان راته پټهان وائي اګرچه په اصلیت کښې مونږ پښتانه یو ځکه چه ښتو او پښتون د یو بل سره تړلي دي په کار دي چه ټول دومونه په خپل اصلي نوم او پیژني. زمکه یعني علاقه زمونږه ډیره لویه ده. د دریائي آمو نه ترجهلم او د چترال نه تر بولان رکویټه، پوري یوه ستره پښتون شنوا لرو. خو د بدقسمتئ نه پښتونخوا دښمنانو خپور وور کړې دي اګرچه د ژوند قیمتي وسلي زمونږ ډیرزیاتې پرېوا نه دي. یعني ډیرې اوبه. ډیره بجلي. ډیر قیمتي معدنیات. ځنګلات. او ډیر ښه پیداواري زمکې لرو. خو د خپل حق نه تراوسه پورې محروم پاتې یو. خو دا خبره د خوشحالئ ده. چه د نن زلمي باشعوره دي. دوې ته د خپل ذات. قسمت. قیمت او اهمیت احساس شوې دې. د لراو برغر اوسېې پښتون ټول یوملي سوچ او شعور لري. چه پښتو پښتونولي په خپل اصلي شکل رجسته کښې د نړۍ د نورو قومونو د توجه او تقلید مثالي نمونه شي. په اخر کښې به ځه دا وایم

***

پښتو وایه پښتو خلپه کړه پښتونه
چه هم دغه دِهم دین او هم دنیا شي

# د پښتون په نوم پیغام

په یوداسې وخت کښې د پښتون قام دخپل تاریخ دیو ډیر خراب او نازک وخت نه تیریږي، یو داسې وخت کښې چه د پښتون قام په ټولو حقوقو باندې بل چا قبضه اچولې ده، یو داسې وخت کښې چه دسامراج دلاسه د پښتون قوم وحدت پاڼې پاڼې کیږي او یو داسې وخت کښې چه پښتون قام یو داسې سیلاب باندې لاهو دې چه د خپل قسمت نه هم نه دې خبر "پښتون" رساله بیا جاري کیدل څمونږه دپاره دخوشحالې یوزیرې دې او دامید یوه رڼا ده.

"د پښتون" دبیا جاري کیدو خبر سره څمونږ سوچ د نن نه تقریبًا نیمه صدې وړاندې د "پښتون" کردار ته لاړشي کوم چه دې رسالې برطانوی استعمار خلاف لرلې وو. نن مونږ بیا توقع لرو چه دا به ددې وخت سامراج خلاف هغه شان کردار ولري. مونږ داهم توقع لرو چه "پښتون" به د پښتون قوم، د ده د ژبې، د ده د تاریخ او ادب هغه هومره [خدمت] وکړي کوم چه د وخت ضرورت دې. مونږ په دې لاره کښې "پښتون" ته د خپل پوره پوره لاس یقین ورکوو او ټولو پښتنو او خصوصًا پښتنو ډاکټرانو نه خواست کوو چه د "پښتون" سره دلیک لوست لاس کوي.

په درناوی

ډاکټر غریب نواز

مشر سکتر

## ـ دَ پښتنو ـ

# پښـتون

د پښتنو دا لویه بنګ مرغی او خوش بختي ده. چه کله ور کښې امیر کروړ - میرویس خان - بهلول، شیر شاه سکندر - شهاب الدین - عظیم الله خان، محمود - شیخ رحمکار - رحمان، خوګنو میاں - سرتور فقیر او ملا مستان پیدا کړی او که ور کښې پیر روښان، جلاله، خوشحال، ایمل، دریا، حاجي ترنګزی، فقیر ایپي، امان الله، عمرا خان او عبدالغفار خان پیدا کړی.

او دا هم د غه لوی سبب دی. چه د علم او عرفان، شعور او احساس، پوهې او زیرکۍ، قام او قامولۍ، پښتو، انسان دوستۍ، اسلام دوستۍ، وطن دوستۍ، سامراج دښمنۍ د جذبې لاندې داسې داسې لوی لوی کارنامې وکړې د فتحې او سوبې جنډې ښخې کړې. چه کله دا خلق هر څو په بدنۍ توګه د خپل قام او اولس څخه څې بېټ کړي. او تور د خاورو ته وسپارلے شي. خو د دوی مبارزه، مجادله، فلسفه او لار ښودنه د قام او اولس د پاره تکه د قطب د ستوري د لار ښود نه تابیا او کړځی.

څه هم که داسې ناپاکه قهرمانانو څخه په ژوندانه کښې پر دو کوښانو نه شلولی دی او پر دو په کښې ویشتي دي. په زندانونو کښې ئې اچولي دي. دکور کلي نه ئې په شپه ونتیا مجبوره کړې وه. دوی ته ئې دخت په دخت پښې او د سپي جوړې کړې دي. بې جوازه او بې بنیاده پروپګنډې ئې ور پسې کړې دي. دوی ئې دنیا ته غلتورن کړي وي او د دوی په کردار کښې په کرو رونو روپۍ لګولي دي. او خپله تپوله مشینري ئې د دې له پاره په حرکت کښې راوستي وي. او دنیا څه چه ئې د دوی خلقو په نظر کښې په مذهبي رنګ وهلی دي. په دوی ئې د کفر او غدارۍ فتوې لګولې وي. او دوی څه، چه د دوی په مسیدانو، پېرکارانو او منونکو ژوند زواک ئې تکه د مغلو د پښتنو اوړکوډ کړې دی. خو حقه خبره دا ده چه تاریخ د چا خبې نه کوري. او خپله فیصله پخپله اوروي. دغه وجه ده. چه نن هم دغه د آزادۍ د شمعې پتنګان په قام مینې پخپله خاوره غوړځنګو ته کونکي او په دې سرونه ښیندونکي، نن هم ژوندي دي. نن ئې هم په جوړ جانوکښې د عظمت او تقدس د ژوندونک د کې قیصې کولې شي. په لوبو او سندرو کښې ستائيلې شي. او د مستقبل تاریخ جوړولو د پاره هم د دوی د شعور او فکر د شونتیا نه لیتکی را غستلے شي. او د غه وجه ده. چه کله خلمی د دوی په خلو د عقیدت او احترام د ګلانو غیږکونه اېږدي او د دوی عظم او اراده سوګند ونه پوره کوي. نن بله طرف د وطن پېغلې مله ئې په قبرونو د ښنه بخت د پاره څونډی ایږدي. او د دوی مبارزه او کړاؤ او تکلیفونه تل تر تله یاد، ښاد او روښانه ساتي.

دغه وجه ده. چه سړي خو د دارو سړي خو چه آزاد مړ شي. نو د وطن پېغلې ئې په قبر د ګلو نو کیږدي او چه غلام مړ شي. نو د قبر په خاورو ئې کونګیان غول کوي.

سترمشر او لوئ پښتون چه تر یوې صدۍ پورې کومه مبارزه او مجادله کړې ده. حقه خبره دا ده. چه نوره دنیا څه پخپله په پښتنو مشرانو کښې دومره اوږده مجادله او مبارزه هیڅ نه ده کړې د غه وجه ده چه باچا خان صرف یو نوم دے. دا د پوره صدۍ تاریخ دے. مبارزه ده. مجادله ده. فکر دے. شعور دے. احساس دے. درد دے. او د رو ښانه مستقبل یو لار ده. یو کوشش دے. جد و جهد دے. یو فلسفه ده. یو عزم دے. کلک واک دے. د

جبر او ظلم او تشدد په مقابله کې یو غر دے. یو قانع انسان دے. یو اولسی غړے دے. یو قانع اخلاص دے. د ناپلمو په مرنډکې بوګولن دے. د زورګیر په مخ کې یو استقلال دے. د یو وسو، یو وتړو، مظلومو او د ظلم او جبر په ښکیلو کې د ډاکټر شپه، اصلي او ساتي چېرته پاره د آزادۍ او مظلومو اغستو یو اعلان دے. یو عمل دے. او یو نه او دریدونکے کوشش دے.

هم دا نمونه کسانو او شخصیات دي. د چا نه چې نه صرف خپل ماحول، خپل اولس بلکه د نړۍ تاریخ چاپېره چورلي. او هم دوی دغه تاریخ د خپلې مبارزې او جهاد په ځلولو او ډیوو لیکي. دغه وجه ده. چې بیا د زورګیرو، غاصبانو او سامراجیانو په زر، زور او پروپیګنډه لیک شوي تاریخونه لکه د کنډرو پرته دي. او هر څوک پرې لعنتونه وائي. او د فن او تاریخ په مقدس فن کې ورته هیڅ وقعت نه ورکوي.

باچاخان څومره ملک الشان وو. د دې اندازه د هغې پروپیګنډې نه په اسانه سره لګیدے شي. کوم چې د دوی په لوړه او نه درکیدونکي شخصیت پسې "یونین جیک" شروع کړې وه. او د دوی د حق رسیدو پورې د حق او شعور نه مضحکه کوله. د باچاخان په پروپیګنډه چې څومره دولت او طاقت خرڅ کړے شوے دے. که چرې دغه دولت او طاقت د ملک په ودانۍ لګولے شوے وے نو نن به دے وطن حالات ډېر بدل وو. او داد باچاخان لوے شخصیت وو. چې سره د دومره پروپیګنډې هغه ورک نه شو. که چرے دغه پروپیګنډه د روس او امریکې غوندې غټو ملکونو پسې شوے وے. نو کیدے شوه. چې د دغې ملکونو طاقت او زور ئے کم کړے وے. او د "دبچو" د اختیار نه لاس په سر شوے وے.

د پښتنو دے پښتون شاه ملنګ آخر څو بنسټ څه! دغوي خبره پکښې دغه ده. هغوي صرف او صرف دغه قدر څو بنسټ. چې مونږ غداري نه منو، پد ے هغوي لختو دن کولے شي. غدار کولے شي. او کافر کولے شي. سرے چې دے نه اوکوري. نو د "یونین جیک" د وفادارانو څېرے درته څه بل شان را ښکاره شي. چې آیا دا خلق څومره نا پوهه بے شعوره او بے احساسه وو. او په اصلي معنو کښې د خپل وطن سره "حب" نه وو. ځکه چې هر "حب وطن" د بل د خاوندے قدر کوي. او د بل د خاورے "حب وطن" نه پېژنوکانے او عقیدتونه ورانده کوي.

خو سامراج - سامراج وي. او د سامراج نه د انسان دوستۍ طمع کول د سپلمۍ په بوټي کښې کبین کلل دي. کله چې سامراج پدے شو. چې دا شخصیت مونږ نه شو ارتاوهلے نو ترد ے پورے چې د آزادۍ د دے ستر قهرمان وطن ئے په حکومتي علاقو، ریاستونو، آزادو علاقو او ځینو ایجنسانو هم او وپښلو. چې د دوي د قام ییو والے له منځه اوباسي. خو د پیرنګي دغه حربه هم د بابا مسیدانو ناکامیابه کړه. ولے؟ ځکه چې او به په چانګ نه بیلیږي. او د غه بابا دا خواره وارۀ پښتانه لکه د ځپرو ددو لختو، ولو، ټکاکو. او سیندونو یو ځائے کړل. او ځان ته ئے د "تربیجې چړم" عظمت او نوم اوګټلو. د دے صرخه د پاره یو نه ستړے کیدونکے شخصیت پکار وو. او هغه شخصیت چې د قوت قطب مینار وو. د پښتنو پښتونت شخصیت وو.

د عزم او ارادے دا لوے پیامبر نه چرچپ کړو. نه چا ښکته کړو. او نه ئے اوغلولے شو. د وخت د دے منصور لاس تش وو. نه درکښې کونګ وو. نه ګونه وه. او نه بم وو. او بیا په دے د پاسه ئے په خپل نر ایمان، غیرت او د خپل "لیونتوب" قام په مرسته د دغه سامراجیانو دا ټول "هتیار" بے کاره کړي دي ولے؟ ځکه چې لوے بابا د عدم تشدد بابا وو. د امن، آشتۍ او مینې محبت یو ښائسته تاج محل. د ښکلا او ځلا ډکه او امن غوښتونکے سوات وو. د امن، رورۍ او انسانیت دا پیامبر، د ښېګڼو او صافۍ، کردار او شخصیت او د ښېګڼو "سرشینددونکو" منونکو په سوب د تاترے، خیبر، ایلم، لواغر، شوال، سلیمان، جدنک، او مهابن حکمران وو. سلطان وو. او باچا خان وو.

باچاخان پوره صدۍ ده. او بیا دا صدۍ ئے د ملښتونو او ګهنتو ترحسابه پورے د جدو جهد ډکه صدۍ ده. روس تاسو انصاف اوکړئ چې هغوي باندے څه اولیکو. او څومره اولیکو ځکه چې د باچا خان د ذات سره سره

دخوی مبارزه، د یونین جبګ سو واکړی، ژوند او تګ تهورې، او بیا دخپلو او پردو دشرم او په حیا ګډ دی سه یلی او بیاهم په سه خبره نه او در پیری ترڅو چه موږ د انګلستان د ښاپېرو چه د سه وطن ته د هندوستانیانو د بې وسی له سوبه " لاتان " جوړ شوی دو . دخوی د راتلو د سه خاطر د خلقو مطابق دخوی راسته، لهو لے دپوتوپه او بیا د پښتنو په باب د خوی د پالیسۍ کره کتنه . بیا د پنځه وچه د لوی هندوستان د غلامۍ نه تر آزادۍ پورې، بیا د پاکستان د آزادۍ د دورې نه تر باچاخان د ورستی سفره پورې، د اهرڅه په ژور نظر او نه کوو . او بیا د انګلستان د ښاپیرۍ " چه لوی باچاخان وو نه لکه د "سپېرې د پېریانو " کیاو په سر کړو . او انګلستان نه لے دغلرل وو بیاد ستر مشر وو مبارزې بنیاد، کارونه او د دوی د شخصیت چه لکه د اېلم د غره او دوکا غنه او د پیر بابا سله پچو سدی پنځه دی . او لکه د بونیر د تال د هر دنګونه لرې او لکه د سوات د ډاګ د جرګه کښې ښیې لرې . او لکه د خپل او پرد عمر د پوره صدۍ د هرې شپې ورځې او ونڅونه لرې . لکه د سوات د ښائسته زیګ په ترسه او په لرې او لکه د کوپس او پاسین د کوز (انګور) د هرې خپلې لرې . او بیا د هغه هالی هالی او عالمی ادب چه په امریکه، یورپ، روس، هندوستان، افغانستان، ایران، چین او پاکستان کښې دده لوی سړی په شخصیت او فن باندې لیکلے شوی دی . او بیا په تېره تېره د پښتنو د مورنۍ ژبې پښتو هرهغه څه چه د خدائے پاک دده ملګ او دده د خدائی خدمتګار تحریک په باب د دکښې هرڅه موندے کېږی . او دی سړی د پښتنو دده کم پوهی او بے خبرۍ اندازه لګول چه دغه هرڅه ئے برابر دول باندے نه دی راجمع کړی . او د غفلت کفاره دی ته تول پرته ده .

زما د پاره هم دا هرڅه راټینګول دا وخت چه هغه هم یو مضمون قدرے لیکم ګران کار دے . بیا هم څه دا نمکړے کوشش په دے لاندینو کی شو کښې ستاسو د لانه حضور ته د لوی باچاخان د روح خوشحالولو او د خپل فرض پوره کولو په سوب د وړاندے کولو نېک مرغی ترلاسه کوم .

**د صدۍ مېړه :-** څکښې هم ذکر شوے دے . چه لوئے پښتون یو نوم نه دے . د پوره صدۍ د پښتون تاریخ او مبارزه ده . دے پوره صدۍ کښې کوم زور دے . کوم ظلم دے کوم ناروا سلوک دے . چه دده لوئے انسان سره نه دے کړے شوے . تشدد وو . وهل وو ، ټکول وو . سختی وے ، جېلونه وو . جائیداد ونه سکارګول وو ، لوږه وه ، تنده وه ، تنهائی وه ، د اولاد تکلیف وو ، د مریدانو وینے وے ، سلګی وے او اوښکے وے . خو دی لوئے سړی هیڅ کله ئے زړه مات نکړو همت ئے سړے نه شو . حوصله ئے او نه بائلله . او سر ئے د چا تالے لاندے په ټدشل بنکته نه کړو . د هرچا هرلالچ ، حرص ، طمع ، سیاسی رشوت ئے لکه د رستم پهلوان په لته او وهل او پورې نرۍ ته ئے د پښتون حیثیت عزم او استقلال په مثالی توګه او ښودل . او د لالچیانو سترګے ئے باندے پاتے کړے

**فولادی شخصیت :-** دده یو سے صدۍ د هرقسمه ذهنی او بدنی تکلیفونو ، د جېل د تیاره کوټو او تنهائی د دوهرۍ جلسو ، جلوسونو ، کوششونو ، منډو ترړو او اوږدے مبارزے باوجود سرے حق حیران پاتے کیږی چه لکه څرنګ چه خوی هر کار او هر کردار لاثانی وو . دغه شان ئے د وجود هم یو فولادی وجود وو . چه د نښلو کالو په دے سخت متریخ او د تکلیفونو ډک ژوند کښے ئے د بدن هیڅ یو ے حصّے او اندام خپل کار نه وو پرېښے او دغه د وجه چه په خپل مشن د خدائے د مخلوق خدمت کښے هر وخت په مکمل دول او پوره توګه برابر روان وو . چه د دنیا په تاریخ کښے یو د پر ځلنده مثال دے .

**عدم تشدد :-** د پښتنو ټول ژوند او ګډ تاریخ د وینو څوڅه ډک تاریخ دے . دغه د وجه ده چه ددوی د وطن هیڅ داسے یو لښت زمکه نشته چه هغه دوی د غلیم او یا خپله وینه نه وی بهرا زه کړے او دغه چل د نامعلوم وخت نه تر " یونین جبګ " د رقبهٔ د پورے جاری وو . خو د غے چل پښتنو ته ټولو ئے

نقصان هم رسولے دے. دغه وجه دۀ. چۀ د خپل علم، ثقافت، تمدن او تاریخ دلیکلو دا سے محرومه پاتے شوی دی. ځکه چۀ ..وی عمر په سنګرونو کښے تیر کړے دے. ددوی کۀ څه هم تاریخونه لیکلی شوی دی. نو هغه د غے سامراجی قوتونو لیکلی دی او رښتیا خبره داده چۀ د هغوی نه د رښتیاؤ طمعه کول د خرۀ په سر ښکر لټول دی. بله دا چۀ د پدے کښے به د پښتنو د سرونو د بې زیاتے زیان تاوان کیدلو. خو پښتانۀ د تشدد نه عدم تشدد نه بوتلل ځۀ ناشوے غوندے خبره وه. خو د لوئے باچا خان څومره کلکه اراده وه. او څومره هوښیارتیا وه چۀ د خپل حقوقو د جنګ د پاره ئے د عدم تشدد لارۀ غوره کړه. او په ډیره کامیابۍ سره ئے خپل جدو جهد هم د غے لارې په ښد سرته اورسولو. زما په خیال داد باچاخان یوه ډیره لویه، عظیمه او کامیابه کارنامه ده. کۀ چرے هغوی دا سے نۀ وے کړے. نو نن دے ده چۀ پښتانۀ دانګریز نوے وَ سلے یاد مینځه ورک کړے وے او یا ئے محکوم کړے وے. او دا د نړۍ په تاریخ کښے یو لوئے اعزاز دے. چۀ یوائے باچاخان ته حاصل دے

**اصلاح** :- کۀ پښتانۀ یو طرفته ډیر ښۀ هم دی. خو بل طرفته ډیر بد هم دی. او بدی ئے د سرے اود دے. او بدی ئے عمر له د خپله کوره شروع کیږی. هر یو د بل تربُور جوړیږی. په معمولی معمولی خبرو ویے توبوی دغه وجه چه د باچاخان ټول پروګرام د اصلاح دو. د هغوی په زړۀ کښے د قام د اصلاح جذبه وه دد ے د بے نه هغوی د انجمن اصلاح الافاغنه بنیاد کیښښودو. ځکه چۀ داد لوئے نظر خاوند پوهېدو. چۀ تر څو مونږ خپلے کورنۍ دشمنۍ، ډلے، پرے جنبے نۀ وی ختمے کړی. او کوم زور چۀ د رور د کریوان په شلولو کوؤ. او کوم لاسونه چۀ د خپل پښتون په وینه سرۀ کوؤ. او دے د مینځه ددکه وو. نو تر څو چۀ د غه تخریبي قوت مونږ په تعمیری قوت کښے بدل کړے نۀ وی. مونږ د هیڅ جوګه کیدے نۀ شو.

**مدارس** :- پښتانۀ ټې بے تعلیمه وو. کۀ چرے څوک دد کښے په سبق ویلو بوخت وو. نو هغه د خان بهادرانو ټې وو. د عوامو د بچو د پاره څۀ بندوبست نۀ وو. باچاخان ځپله د علی ګړه تعلیم یافته وو او پۀ دے پوهه وو. چۀ تر څو یو قام د تعلیم په کالی نه وی پوره شوے. په ښۀ او بد کښے فرق نۀ شی کولے. دغه وجه وه. چۀ هغوی په ۱۹۲۱ء کښے داتمانزو د آزاد مدرسه نه ددے شروع اوکړه. او جرګو، مرکو کښے ئے خلق د تعلیم د اهمیت نه خبر کړل. او دد غے سکولونو د پاره د چلولو ځنه تابیا اوکړه او په اصلی معنو کښے په پښتنو کښے د "عوامی تعلیم" بان ټکنلے کیږی

**ژبه** :- که یو قام هر څومره ښۀ مازغۀ لری، صحت لری، علم لری. خو چۀ د دۀ ځله کښے پردی ژبه پرته وی. نو دے د خپل د غے شعور او پوهے په دنیا نوز نۀ شی منور کولے او نۀ پوره پوهه او علم په پردۍ ژبه کښے په ښۀ ډول حاصلولے شی. دغه وجه ده. چۀ دا باتور نظرۀ انسان په دے پوه وو. دغه وجه ده. چۀ پښتو ژبه ئے د خپلے پارټۍ، خپل تحریک او خپلے مبارزے د پاره د یو بل سره د خط و کتابت او دفتری ژبه مقرر کړه. د هغوی خپله وینا ده. چۀ په جهل خانه کښے ما د خپل قوم په حالاتو باندے په ښۀ شان سرۀ غور کړے وو زۀ په دے نتیجه ورسیدم چۀ په دنیا کښے هیڅ قوم بغیر د خپلے ژبے نه ترقی نشی کولے. او په هغوی کښے علوم او فنون پیدا کیدے نشی. د باچاخان دا څومره لویه کارنامه ده. چۀ لوئے غازی امان الله ئے په پښتو لګیا کړے وو.

"باچاخان وائی: یوه ورځ زۀ د امان الله خان ملاقات له تلے وم. ډیرے خبرے مو ورسرۀ وکړے په خبرو کښے مو ورته اووے تاله ترکی درځی. فارسی درځی او نورے ژبے هم درځی. خو خپله ژبه نۀ درځی. زما خبرے په هغۀ ډیر اثر اوکړو. او دا وعده ئے راسرۀ اوکړه. چۀ زده به ئے کړم. کله چۀ له افغانستان نه واپس شو. زۀ بمبئ ته ددۀ لیدو ته ورغلم. نو هلته ئے ما سرۀ پښتو کښے خبرے



CS CamScanner

دکړے."
انګریزانو خو د هر څۀ سره ژبه هم د منځه ایستله. او پښتو ژبې چې ئې داسې پروپېګنډې شروع کړے وے. چې ګونډے دا د سړو د بنیادمو او سړي توب ژبه نۀ ده. یوه بې کاره بې مطلبه او ډزنې ژبه ده. د خپلو خلقو ئې ترې کرکه پیدا کړے ده. باچاخان چې د ژبې د ژوندۍ او ګرځندۍ ساتلو دپاره کوم کوشش شروع کړو. او دے کښې ورسره څۀ اوشو. د هغوي د دېنا دا یوه د دګوټه نمونه د هغې د وضاحت اوکړي چې " د تعلیم یافته کسانو سره به هم د ژبې په باره کښې خبرے دکړے. راته به ئې اوویل. چې پښتو له څۀ ژبه ده. په د پښتو کښې علم نشته. ما ویل چې هلکه دا نورے ژبې خو د آسمانه نۀ دی راکوزے شوے د هرے ژبې ویونکو خپلې ژبې ته ترقي ورکړے ده. پښتنو چې خپلې ژبې ته توجه نۀ ده ورکړے. د دے کښې د پښتو ژبې څۀ ګناه ده. دا خو زما او ستا ګناه ده."

**اثرکن** :- د هماغے دے دنګ غږ یوائے پدے بس نۀ کړل. بلکه په دے پوهه وو. چې خپل پیغام خپلو خلقو ته د قلم په لاس اورسوی. د دے دپاره یوه رساله د قام په نوم "پښتون" جاری کړه. له د هر چا نه ئې د لیکلو له دخلنه کړه. دوړو دړو لیکوالو حوصله افزائي ئې اوکړه. او د دغې حوصله افزائي نتیجه دا شوه. چې دغه دارۀ لیکوال څه وخت ورسره نو ئې لوئې لیکوال جوړ شول. او د خود ئې ژبې لمن ته ئې د ډېر په ډېر خوشبویه ګلونه واچول. بله دا چې دغه "پښتون" رساله د خپل دور یو داسې ترجمان دے. چې د سامراج د الادو، د سیسو، زیاتو او ظلمونو او د خدائي خدمتګارو د مبارزے او همتونو اندازه ترے په آسانه لګیدے شي. او دا د دغے دور یو مستند ماخذ او رېفرنس دے.

**ادب** :- د باچاخان د دے ژور نظر یوه لویه فائده دا شوه. چې پښتو ادب او شاعري چې د دے نه مخکښې د ښځې او دېل او ټیک تعویز، هجر او وصال شاعري ده. هغه د مطلب طرفته راواګرځوله — هغه د خپل چاپیرچل ترجمانی شاعري اوګرځوله. او یو ساهو او قامي ادب منځ ته راغے چې په ټبو وخت د دکښې سیاست، معاشرت، تهذیب، تمدن، تاریخ او ټول ژوند ځلاک موندے شي.
او هم دغه شاعري مخکښې لاړه. او دومره ستر ستر لیکوال او شاعران ئې پیدا کړل. چې نن د دنیا هرے ژبې ته پښتون ټیپو ئے شي. او د خپل وخت سره سره نن او صباهم یو غوره فنپاره ګڼلے شي.

**ادیب** :- څۀ هم که دا لوئې اباسین څپلو د ډېرو کوششونو کښې لګیا وو. او د لیک په میدان ئې څۀ ډېر څۀ نۀ دی لیکلي. خو بیا هم د هغوي د "پښتون" رسالے نګران، د هغوي خطونه او بیا په ستره ستره خپل خود نوشت د هغوي داسې کارنامے دي. چې هغوي ته د ادیبانو په صف کښې یو غوره ځائے ورکولے شي.

**روحانیت** :- د صدیو د میړۀ د سختو پخو د دے ژوند سره سره د هغوي د پاک او سپېڅلي شخصیت سره د هغوي روحاني مرتبه هم ډېره لویه او ډېره اوچته ده. څۀ که هم هغوي د ځان سره د "حافظ" او حاجي لقبونه نۀ دي لګولي. خو بیا هم د هغوي شخصیت د هر قسمه اخلاقي داغ نه بچ پاتے شوے دے. نۀ ئې خرڅ شو. نۀ رشوتي شو. نۀ لالچي شو. او نۀ په هیڅ یو اخلاقي ګناه ککړ شو. د دغه خو وجه ده. چې دښمنانو خو هغوي ته غدار اووے. غېر محب وطن ئې ورته اووے. خو هیڅ چا دا قدرت بیا نۀ موندو. چې په هغوي د اخلاقي ګناه څۀ تور پورے کړي. ځکه چې "زر پاک څۀ داوره څۀ پاک

**افاقي شخصیت** :- څۀ هم که سامراج د هغوي د عالمي شخصیت د دائرے د تنګولو کوشش کړے دے او هغوي ئې هاغے کوششونو ته پرے نښودل. کوم چې هغوي د ټولې نړۍ د بشر د پاره کولو. ځکه چې د هغوي پیغام د خدائې د مخلوق خدمت وو. په دغې کښې د رنګ، نسل، ژبې او قام فرق نۀ وو. د هس

مظلوم ملګرے او د هر ظالم لاس نیوونکے وو. د دغه خو وجه وه. چه هغوی خپله غیر سیاسی تحریک له د خدائی خدمتګار پاک شوچو د ساهو نوم غوره کړو دا څو سامراج ظالم او ناپوهه دغه تحریک په بله واره وو. او دنیا ئې د یو نوے ولس د پوهے، شعور، مینے، محبت، اخلاص، امن او رورولی نه محروم و ساتله. و لے ؟ ځکه چه که د دے امن، اخلاص، محبت او ورورولی دا پیغام د نړیٔ غم ځپلو غریبو نه رسیدلے وے. نو بیا خو د سامراجیانو اوتیے ؟ نهٔ شوے چلیدے. خو د دے څو نه کسانو د علم او عرفان پوهے او شعور هغه خوشبوئی تل تر تله ځوک نشی قید کولے. او هم د دغه "احساس" بوټی د مظلومانو زړونو ته رسی. او دهغوی تیار ے په رڼاګانو کښے بدلوی. او ماښام ئے ځاځا او بے شکه صبا کیږی.

**اولاد:-** د دوئے باچاخان د ے لوئی ته هم سړے ګوته په خوله کیږی. چه د خلمی توب سره هغوی د سامراج د لاس نه در په دیکه او په سختو کښے بوخت وو. که یو خوا ئے د قام او قامولی او د خدائے د بندیانو خدمت په لاس وو. او هیڅ څه وخت و ر سره نهٔ وو. نو بیا هم د قادر خدائے دا خومره لویه مهربانی ده چه په باچاخان ئے داولاد په باره کښے هم کړے ده. ځکه چه د تاریخ یا نړیٔ برخیره پرسته دی. اکثر د داسے نابغه شخصیاتو اولاد د بے پوهے پاتے کیږی. و لے باچاخان لکه د هر څهٔ دا خبره هم غلطه ثابت کړه دهغوی درے واړه ځامن ځان ځان له په خپله میدان کښے د "لائټ هاؤس" حیثیت لری. که یو د سیاست په میدان کښے، ولی ؔدے. نو بل د فن، علم، عرفان، فلسفے او ادب په میدان کښے دومره "غنی" وے چه هیڅوک ئے د غنا نه محرومه نهٔ دی پاتے. بل خوا ئے یو بل قهرمان ځوئے د علم او نظم و نسق د میدان ملګے وے. چه په د ے میدان ئے هیڅوک د ګزار د زغملو توان نهٔ لری. او خپل پردی دواړه ئے د ګزار قائله او صفت خوان دی

**عالمی ادب:-** دد ے عالمی شخصیت او ددهٔ د افاقی، امن، خواخوږیه ډک تحریک، خدائی خدمتګار باندے په عالمی ډول ډیر ډیر څه لیکلے شوی دی. د پښتو خبره په ځائے پریږدو. ځکه چه دا خو د هسکے شملے دد ے شاه خلمی خپله ژبه ده. خو ددوی په شخصیت او تحریک باند ے هغه کتابونه د لوستو جوګه دی. چه په اُردو، فارسی، انګریزی، جرمنی او روسی کښے لیکلی شوی دی، پکار داده. چه ددوئ د ذات او کار په باره کښے دغه ټول هر څه را جمع کړے شی. او د بابا د پښتو ملی تړے ډکه او د پښتنو تاریخ پرے شتمن کړے شی.

**وروستے سفر:-** جنازے ډیرے شوی دی. د فقیرانو هم شوی دی. او د شاهانو هم. خو د دے شاه منګ جنازه چه په کوم عظمت، عقیدت، اخلاص، مینه او د زړګی د اخلاصه د دهٔ مریدانو کړے ده د دنیا په تاریخ کښے ئے مثال موندهٔ ګران دی. د دے مریدانو چه په باران، ژلی، یخنی کښے د ر دے خلوږ ورځے کوم تکلیف نه پر کړے دے. حقه خبره داده چه هم دغه د زړهٔ مینه وه. جنازه وه. لوئے غم وو. د هر چا زړهٔ پرهر پرهر وو. د هر چا فکر او شعور شل وو. بے هوشی وه. ژړا کانے وے. ویرونه وو. چغے وے هیر شوران وو. د خلقو یو سیلاب وو. یو هیر وو. او دا د هاغے تاریخی دخت نه بدل منظر وو. بدل ماحول وو او بدله فضاوه

چه جنګ له دے منصور روان
نهٔ تیغ او نهٔ ټفنګ لری

داد یو لوئے انسان وروستے سفر وو. چه دا سفر ئے نړیٔ د یوجیل، یو زندان د یو تودتم په

باقی صفحہ ۳۸

36

# د غتو مجرمانو ډائيري

## يو قيدى

ډاکټ ۱۹۶۱ء مياشت وه مونږه ډشيں ـ څرکسان په يوه لوړه فونډي احاطه کښې په شپه ورځ تيردلو مجبور کړے شوى وو ـ په دغه احاطه کښې صرف يو بارک وو د ټولې احاطې پلن والې او اوږدوالې به تقريباً پنځلس مرے وو دغه احاطه د لنګرنه قطب ودې ته وه ـ ټولې احاطې د لنګرنه ګير چاپيره وې . او د ټولو دروازې ننګر طرفته راوتې دې ـ د دغې جيل ټولې دروازې د اُسپنې وى ـ چه کوم وخت به بارک بندى کيدو نو د بوخوا بل خوا نه به د دروازو بندولو اوازونه لکه د وروتو پو د اوازونو غوندې اوريدې شو . د دغې جيل ملازمين ډير مغروره او رعب ناک وو ـ سپرنټنډنټ ې ه م ګوره نسلى انګريز وو ـ چې هغه به په جيل را ننوتلو ـ نو قيديان ځکه چې په ډپټى سپرنټنډنټ او نورو ملازمينو باندې به داسې ويره وه ـ چې لکه چې د شاهينانو جوړه د سينې په مرغابو راشي ـ او بيا څوک داسې نه واى چې دلته اُس مرغابو په سينه کښې ستيانې کولې ستدرې ديلې تر لکه چې ټولې سيند را کښلې وى ـ صرف د احاطو د دروازو يو غرز به اوريدې شو ـ د جيل د پريډ را تعدّ وه ـ ـ چې ټول قيديان به د يه خپله احاطه کښې د پنځو په سر کيښناستل دواړه لاسه به ئې د پښو په پنځو داسې خواره کيښودل

لکه چې څوک سوال کوى سرو نه به ئې لکه چې ګډى څرنګ کوى ـ داسې ښيښت نيولى وو ـ خپل نکتې به ئې مخې ته ايښې وو ـ د هيڅا مجال نه وو ـ چې سرى پورته کړې وې څلور چست او تکړه د جيل نمبرداران به د سپرنټنډنټ نه مخکښې لکه د نوکرانو په يو قدم د سپرنټنډنټ سره ـ به لږ وروستو د هغه ډپټى سپرنټنډنټ وو ـ بيا نور داروغه کان ډاکټر، چيک جمعدار او نور کارده وو ـ ليکن چې به روان وو ـ نو د ټولو پښو اواز به يو وو ـ د جيل په قانون کښې د شپې د لسو بجو نه په قيديانو خبرې بلکل ـ بندې دې ـ د جيل د لوړې دنګې قلعه د پاسه ځاى په ځاى برجونه جوړ وو د جيل په قلعه د بجلۍ تار خپود کړې شوې وو ـ د قلعه سره به قيديانو نمبردارانو د پترى چلولو او صرف د تلمه اواز به په نيمه ګهنټه او تابته ګهنټه اورې دې شو ـ

دغه جيل په داسې ځاى کښې دى چې ګير چاپيره ترې غرونه دى ـ او د جيل د غرونو په مينځ داسې معلوميږى لکه چې د يوى غټې اژدها د خپل خوراک بنيادم رااېسار کړې دى ـ د جيل نه بهر غرونه ټول د جيل دننه دغه بنيادمو ته ګورى د جيل قطب ودې ته په غرونو پوراوشوي تا ئلې ښکارى او سوېلى ودې ته هغه ترکونه هم ليدې شي ـ

چې د غرونو نه کوټيله نا اد باسى ـ په دغه ملاقه يوه سيلۍ چليږى ـ چې د هغې د وجې تک سپين بنيادم لکه د کوئلې تک تور کړى ـ واړه مارغان دلته ډير کم اوسيدى شي ـ البته غټ مارغان ښکې څه استوګنه کولې شي .

ګرمي پکښې داسې وى ـ چې د اګست په دريم تاريخ ماله خپل مګرى هيش خليل د ددو بجو په وخت کښې په غر چاړه ټکړې دې ـ ځکه چې هغه جيل کښې سګريټ ازاد دې ليکن اور لګيت بند دې او بغير ئې داسې ده ـ چې د دسمبر په اتلسم تاريخ يوه سيلۍ شروع شوه چې درې څلور ورځې وه ـ د جيل کارخانه بنده شي څوک د بارک نه بهر نشى وتې او چې مونږ د احاطې مخې ته سمى د اودسونو ډيازه اودتو نو بهر چې د او بو د نلکو نه او به راتوى شوې وه نو هغه واوره شوې ده ـ د تو تو خوله کښې م واوره ده ـ او چې چا به په مخ او به واچولې او لږه هوا به پرې اولګيده نو بيا به ئې مخ چاؤدې وو ـ او د وينې به پرې روانې وې ـ په دغه وجه به ټول اودس کوونکى سيلۍ ته شاکړى ناست وو ـ

دغه جيل کښې د جيل د قانون ډير خيال ساتلې شي ـ ما سيوا د جيل د خوراک نه بل هيڅ څيز

پاتې په صفحه ۳۸

# پښتو لیک دود

مرتضی خان شاهین

دا مسئله د نن نه موږ ته
را په وړاندې نه ده چې د پښتو
لیک دود کښې دومره دې مودې
راسې یوشانوالي ولې نه راغی.
د فرق او تفاوت څرنګوالی ې د
کوم سویه د مخې نه اخوا ته کیدې
نه شي. پښتانه ژبپوهان، څیړونکي
او د کره کتنې فهم اردې طرف
ته پام ولې نه کوي. او نه دا
دومره درنه او ګوچ موږ چ
مسئله ده چې پښتانه دانشمند به
ې هواره نه کړي شي. څو عشره د
مخه په افغانستان کښې پښتو ژبې له سرکاري
دفترې او د علمي ژبې حیثیت
ورکړې شوې دې د ساینسي علومو
فوکلوردې ادب لټون او تاریخ
په ډګر دا ګڼ کتابونه یکښې چاپ
دی. د لیک دود پېښه مسئله
بې له مخه دړلې ده. نو د لته
کښې د لیک دود دا لانجه ولې نه
هوارېږي. پښتون که لر دی او
که بر دې. د لرغونې زمانې راسې
د سویلي ایشیا په یوه لویه برخه
د خپلو تامي روایاتو، عالي افتخاراتو،
د تمدن او تهذیب د ځلنده اثاثو
په بریښنا ډګښې وسیږي. که د
دیورنډ لایڼ نه د یخوا پراته دی
او که اخوا میشته دي، د دې خاورې
... عالي د وایاتو پور محافظ،
څښتان. پیاوړي او له میړانې

یو عنصر دې. چې په تیر او قریب
دور کښې یې سره بړ ځ ې او یو ازیني
د ازادۍ، خپلواکي غوښتنې، تقسیم
شوې نه دې. د پښتنې پت او عزت
ساتنې په لړ کښې یې د مال او سر نه
تیرېدو یا پروړ کامونه اخستې دي
د انګریزانو په خلاف د خپلواکي
او آزادۍ د مجاهدې تاریخ پرې
په حقه د طلائي لفظونو د ځلا
باران کړې دې که چرې ژبپال
غښتلي پوهان او لیکوال او س
یا په نیږدې راتلونکې کښې د لیک
دود ځنګه د خامیو ورکولو په باره کښې
سیمینا رونه او بېړه میټنګونه ونه کړي
او په اساسي توګه د لیک دود
نیمګړتیا پوره او خلا ډکه کړې
نو دا ابتکار به یې د موجود توی
کهول او راتلونکې نسل سره د ښېګړې
اقدام وګرځي. ځکه چې د سیاسي پلوه
او سامراجي ضرورتونو له کبله
پښتون د افغانستان، پاکستان او
قبائلي علاقو په شکل کښې تنبت او برک
کړې شوې دې خوږ بنه د د ې ماوجوږ
هم د پراخې خاورې څښتن قام دې
هرڅوکه انګریزا ستعما په ۹۶ ۱۸ ء
کال کښې د پښتون قام په بو تیپو
چاړه راخکله په ختیز او قطبي
ختیز کښې یې ترې اندامونه پریکړل
د غسې ناتار یې د پښتونخوا یې
سویلي برخه هم ور بڼ کړو. او

د پښتون قام د تاریخي وجود قوت
یې تس نس کړو. خو د ژبې او
ثقافت په وحدت کښې یې ورلی
فرق پیدا نه کړې شو. چې په استعمار
ې اصطلاح کښې ورته د ډیورنډ
کرښه ویل کیږي. په کال ....
کښې یې محکومه پښتونخوا د پنجاب
پلو یوړې غوڅه کړې شوه او د سویلي
پښتونخوا علاقه یې د ډیورنډ لائین
په نتیجه کښې د برطانوي بلوچستان
داخومره دافسوز او اڼګوله خبره
ده. چې د افغانستان نه بر ته د
پښتونخوا قبائلي او بندوبستي
علاقو کښې میسیدونکیو پښتنو د
خپل لیک لوست د پاره وا حد
لیک دود ونه نیا کلي شو. پښتونخوا
په ادبي او صحافتي صحنه کښې صرف
په پېښور کښې کتب شمیر کښې کتابونه
اخبارونه او مجلې په څو رنګه او
قسما قسم لیک دود نو کښې چاپ
کیږي هرڅوکه د افغانستان
پښتون ځان ته یوه بیله او جلا
إملا وضع کړې ده او د افغانستان
وسیدونکې ټول پښتانه یې په
لوست او لیک پوهېږي خو بره
مرغه کوزني پښتانه دغې املا
سره نابلده دی په افغانستان کښې
میشته د کوز علاقې پوښتون جمعه
خان صوفي د خپل عملیت مطابق
د لیک دود په مسئله د یو لنډ بحث په

دنړۍ اکثرو دلیک دودونو دولو په باره کښې ویره صحیح لارخود نه کړییږه هر څوکه لارښ پښتانه دخپلې ټاریخې بدبختو او سیاسي عوامو دکبله دخپلې مورنۍ ژبې پښتو دلیک لوست سره دومره اشنانه دي لکه څومره چې بر نۍ پښتانه دي او دیکه مرغه دخپل مروجه لیک دودنه علاوه دکوزنۍ لیک دود په لیک لوست باندې هم پوهیږي دمثال په ډول په برنۍ املا کښې وییږدي ) وجود نه لري او د دواړو دي.ی ) کاردوي ( ی ) نه اخښتلې کیږی دوې ( ی ) څلور قسمه دی.

ملینه یا نرمه، معروفه، مجهوله اوثقیله، دنومونې په ډول ې داڅلور قسمونه مونږ خپلو لوستونکیو ته وړاندې کوو مثلاً -

| ملینه، نرمه | معروفه | مجهوله | تانیثیه یا ثقیله |
|---|---|---|---|
| ی | ي | ې | ۍ |
| سړی | سړي | ښځې | کرکۍ |
| لړګی | دړې | ادې | څوکۍ |
| لیوني | غوړي | کوټې | بګۍ |
| جمدی | لرګي | څېې | چرګۍ |
| غری | لیوني | چې | سپلۍ |
| چرګی | سپي | لاندې | کرسۍ |
| رګی | یوځي | باندې | |
| | راځي | راغلې | |

ددې نه علاوه دا ( ئ ) لکه لیکئ، خورئ، کوئ، وئ وغیره هم دثقیلو په جمله کښې راځي اوس که مونږ پورتني مثال واخلو نو کوزني پښتانه دنرمې ( ی ) په ځای او ږده ( ے ) استعمالوي لکه سړې، لرګې، لیونې اوسپې. او د معروفه په ځای: دا

( ی ) استعمالیږي لکه سړې، لرګی، لیونی، سپی، راځی. اودا مجهوله ( ې ) په ځای اکثر دپاره زیر، یا دیږده ( ے ) استعمالیږی لکه ښځے، کوټې، دلاړې، راغلې، دلاندې یا لاندې لیکلې شی د ثقیلو ( ۍ ) ځانو په دواړو قسمونو کښې د هیڅ قسم فرق نه واضحه کوي دمثال په طور دکرسۍ په ځای کرسئ لیکی. حالانکې د مخاطب او امر دافعالو په آخرکښې ثقیله ( ئ ) راځی لکه خورئ، لیکئ، کوئ، وائ اولوړ. د تانیثي اسمونو په آخرکښې ثقیله ( ۍ ) راځي لکه کرکۍ، څوکۍ بګۍ، چرګۍ، کرسۍ او دا سې نور مونث اسمونه. دمثال په توګه که په جمله کښې بل یو وړوکي غونډې مثال ته پام وکړې شي نو لرتنې پښتانه به د برنو پښتنو د لیک دود په طریقه باندې پوهیږی لکه کوزنی پښتانه داجمله داسې لیکي «د ژوندې دوی انقلاب» خود افغانستان په املاکښې دا جمله داسې لیکلې کیږی «ژوندې دی وی انقلاب» البته یکار ده چې داخبره په یادکښې وساتو چې په روان عبادت کښې د ثقیله ( ئ ) ځانو نه علاوه دد ې نورو دواړو قسمونو په ځای صرف نرمه ( ی ) که په استعمال کښې راځي نو لوستونکي دې پخپله د روان عبادت له مخې په دغه فرق وپوهیږی په دغه طرزکښې به پورتنې ذکرشوی جمله دغسې لیکلې کیږی «د ژوندې دی وی انقلاب» بله اهمه خبره دا ده چه کوم

ځای جمله ختمه شی کوزنی پښتانه هلته کښې دوه بیش ټکه ( . ) لګوی د بیلتون د سپیري کرښې ( دوه پورنۍ لائین ) نه په اخوا په لیک دودکښې د ډیش په ځای نقطه ( ټکې ) یعنې فل ستاف استعمالیږی او داکوشش کیږی چې دیورډیې ژبو د سکتو تول علامات او رموز په کار راوستې اګر ده ې قسمه تولو علامتونو استعمال لا معیاری شوي نه دي خو سره ددې ځای کوشش کیږی چې دیوروپي ژبو د دقفو نښې لکه نقطه « فل ستاف » اسرچیه - واو - دیرګول یا کامه « ، » قولون . بیانیه. شارحه « : » نیمه بیانیه یا ټکې لرونکې کامه « ؛ » انجالي علامت ترائیه « ! » ویش « - » او اوبین اود « » سوالیه. استفهامیه « ؟ » قوسین او « » داستعمال جوګه ګڼي دي - بل غټ تاوان انګریز استعمار د پیلی شوي سیاسي ویش دکبله پښتنو ته رسیدلې دي او دهغوي انلا یو الانوادس هم هغه پالیسی پرینې نه ده او دلراو د بر پښتنو ترمنځه لیک دود نه علاوه لور ثقاوتونه هم پیدا کوی - دسل کلیزی محکومتیا دا مله حاکمو ژبو انګریزی او اردو د پښتو ژبې په څهره دیر زخمونه او ګاؤنه لګولې دي پښتو ژبه لکه څنګه چې انګریز د پښتو دپاره د تعلیم ذریعه نه جوړه ول دغسې یې پاکستانې حکمرانانو هم ارزښت نه دې تسلیم کړي او پښتنو هم خپلې ژبې ته سپک کتلې دي ځکه چې حاکمانو دوزخي

پاتې په صفحه ۲۸

# مسلسل — چې ځي هر قدم ....

" زمالاره دَ اغزو نه ډکه ده زماڅونه پړله پسې زغابت اوشلي ده. زه دَ یوې داسې لارې مسافر یم. چې دَ هغې ختمیدو نشته. زه چې کوم څامخه کښېنم زمانه ورستو ملګرې به دَ قافلې مشال او چترې اُو په مخه به ځي. دالاره ګرکیچنه هم ده او دَ خطرو نه ډکه هم. زه چې دَ څه په تلاش کښې راوتې یم که دَ هغې نه تاسو خبرشئ نو په پښتو سترګو به ماپسې نه راځئ. اول ځان پوره کړئ، بیا ملا دتړئ او ماسره شئ ځکه چې زما ملګرې به زما نه هم ډیرو مختو سره ځي کیږي. زما جنګ کښې کته بیلات دواړه شته. لیکن کومه لاره چې دَ جنګ دواړه مانوزه کړئ. هغه تولـه کته کته ده. بیلات پکښې نشته. دا ووه دَ پښتنو ستر رهنما مظیم مفکر دَ جنګ ازادغه لازوال شخصیت چې په باچا خان یاد دو.

ته ورسیدو.

" مادا ګله دلیلې ده. چې څوک ئې په یو ځل په ښیږو ورهي نو تاسو ورته دا بل ځل ونیسئ. دا خو عیسیٰ دلیلې دي. زه خو وایم خپل حقوق په ډیره طریقو اخستې شي. یو په تشدد چې پکښې بیلات هم شته او ګټه هم. لیکن په عدم تشدد کښې هم ګټه ګټه ده بیلات نشته. تاسو خلقو کښې همت نشته او الزام په ما لګوئ. دا وو هغه پښتون مظیم رهنما چې دَ خپل ژوند فلسفه ئې په دو ټکو کښې بیان کړې وه. او هغه وو باچا خان.

دَ کال ۱۹۸۶ء واقعه ده لا نډی سټیشن باندې بلا مخلوق په انتظار ود. هر چا سترګې دَ ریل دَ فسټ کلاس په ډبو لګیدلې وې. اوُ له نظرونه ' دکښې خیال او طمع داوه. چې هغه دَ فسټ کلاس دَ ډبې نه راوځي. یو ملګرې دَ ماپوسه په مالم کښې بل ته ووئیل." معلومیږي چې دَ دې کاوي نه پاتې شوې دې، مګر موږ ته اطلاع ولې ونشوه" داشاید یکار خاص کسان وو. په دې کښې یو غوښتو. او خلقو دَ یومې دریمې درجې ډبې ته ورمنډه کړې. هغه سره دستود نتې فیم ریش مشرات هم وو. ګو بل ته ځنځ راوارډلو

" دې انسان سره په لاره تله اسان کار نه دې. داخو دَ دسپنې جوړ دې. نه هې ستړې کیږي. اوُ نه ګرمي. په تول سفر کښې موږ دَ دۀ په طبیعت پوره نشو. تا به دلیل چرته په باغ کښې ناست دې. دا خبره چا هغه ته ورورسوله." باغ دپاره خو دا نبوله لاره نه موږ دوهله او لا خدائی خیر نوره به څومره لاره وهو. کراچې کښې پښتانه په روزګار پسې راوګ شوې دې، دوی هم چې کراچې ته راځي نو په دریمه درجه کښې سفر کوي... نه کوي؟" داوو دَ عام اولس په حقله سوچ کونکې درنه پښتون خان عبدالغفار خان یو مثالی انسان.

هغه به په جیل کښې هر اتوار روژه نیوله، صرف دَ اوبو ډوډۍ نه، دَ خبرې کولو نه هم یوه ورځ تریځ نه جاتیږي دکړو. تاسو دَ اتوار په ورځ دا روژه ولې ساتئ؟

هغه موسکې شو او وې ویل تاسو ته پته ده. موږ دَ انګریزانو خلاف ملاتړلې ده. ازادی غواړو، نو پکار دې چې دَ حاکم قام دَ هر څه نه ګرکیږو دکړو دَ اتوار په ورځ دَ انګریزانو چوټې

پاتې په صفحه ۳۸

دَ کراچې بنارس چوک کښې جلسه وه دَ اولس دَ سرونو یو سمندر وو. چې هر ارخ ته څه چیپې وهلې. دَ انقلاب زنده باد نارې پکښې هم وهلې شوې. شاوخوا کښې تمبد کسانو دَ عدم تشدد دَ فلسفې بحث راخستې وو." دا هم څه خبره ده. تا دې یو سړې وهي او ته دې ورته دَ بوت مونډ ې ولاړیږې" خبره تلته سیج

# ماسټر عبدالکريم
## پېړادرېنی

١ محمداعظم خان اعظم دَ خلی خبرہ

د ۱۰ مونږ ماسټرتن کچن ته پوّلو
اردلیانو ته دا جواب اولیږلو
چه ماسټرعبدالکریم صاحب
په نن داپلار ته دَ علاج دَ پاره
تشریف راوړي وی . هره کمره
کښې چې وی مونږ ترینه خبرکړې
او دا جواب دَ پا ره دَ کمپوډرانو
اوُ نرسانو هم وه ......او بیا
چې سحرکیدو مونږ خبرکړې
شو . چې اې کلاس ته چه زمونږ
دَ ځائې نه یونیم فرلانګ لاندې
ژوره کښې پروت دې راغلی دې
بس بیا خه وو ! مونږ باندې
دَ لیډلو دَ هواهش او عیادت
میږی نکیا شو . زهٔ خو دَ یو
کال نه میږ یکل سپرنټینډنټ
صاحب پوسچرد POSTURE
کړې وم . پوسچر دَ ټی بی بیمارۍ
یو داسې تکلیف دهٔ . اوُ زړهٔ
چاوُدنې علاج دې . چه مریض
په کټ لکه دَ تختې نیغ څملولې
شی . او دَ کټ پښې د رته دَ
لرګی په بلاکونو هسک یو فټ
او چتې کړې شی . بالنسبت ئې
هم دَ سر نه اخوا کړې
دغسې یو کال یا یونیم کال
مریض پښې پورته سرلاندې
په کټ پروت وی په ملاستې

خوری او په ملاستې .....
اړخ قدرې هم دَ وخت مقرره
نه وړاندې نه شی بدلولې
نه دَ دې پابندۍ په وجه
زهٔ ئې دَ عیادت او کتلو نه محروم
پاتې شوم . اوُ بنا غلې عبدالرزاق
حکمت چه ماسره په دویم
کټ دَ هډوکو پنجره پرته وه
سمدستی ئې ځان ته رکشه کرسۍ
راوغوښتله اوُ دَ ماسټرصاحب
دیدار ته سره زما دَ دعا اوُ سلام
سورلاړو . چه واپس راغې راته
ئې اوفرمائیل .
" ماسټرصاحب ډیر ډیر یادوی"
ما ورته غرض اوکړو . چې صحت
ئې ښکلی دې " او ئې وې "
صحت خو ئې ډیر زیات ښهٔ دې "
۱۳۶ پونډه وزن ئې دې ښه سور
سپین دې " ما ورته اووې "
چه هم هغه شان ښائسته
دې . لکه ښکلی چې ئې " ځوله
کیلونه " نومې تصنیف کښې
عکس دې ؛ دَ حکمت صاحب
په شونډو مسکا یو پیراووهلو
اووې وئیل " اوُ هم هغه شان
ئې لا سترګو کښې کشش شته

* * *

میلمه کوربه شو اوُ کوربه
میلمه شو ..

ماحکمت صاحت ته چه زما
خوږ هنرپیال رور دې خوږ ځ
پس دا صلاح ورکړه . چې ماسټر
صاحب خو داپلار ته راورسیدو
شان ئې زمونږ دَ پاره دَ یو
ستر میلمه دې ..... نو دوئ ته
کوُل ورته ډیر ضروری دی .
دا زمونږ دَ پښتنو یوُ قسم دود
اوُ دستور هم دې . او بیا ماسټر
صاحب خو زمونږ دَ سترګو تور
او دَ زړهٔ ټکور دې . بل دَ
آزادۍ سپاهی اوُ دَ تمام خوانخوږې
همدرد مشر هم دې .... او دَ
پښتو ژبې دَ لوړې پائې انشا
پرداز ادیب درسره لابیل دي
حکمت صاحب را ته سمدستی
جواب راکړو . دا خیال خو ځما
دَ یوُ څو ورځو نه ماذغه
اوُ زړهٔ تخنوی خو دیته نه
دَ عمل جامه کله ورپغاره
کوُم اوُ که ماسټر صاحب
خونږ ځائې ته راشی نو نهٔ
ته دکټ نه پاسیدې شي
او نهٔ زهٔ ...... بیا ؟ دَ سوالیې
جملو ما ته دَ فکر په ټال
یوه لنډه وکه جو ته راکړه .......
... خو زرمې ځان قابو کړو . اوُ
حکمت صاحب ته مې مخ راواړولو
دا نن چې مونږ چرګ اخستې

دي . دا به ورته بیګاله د خپل ملازم په معرفت د میلمستیا په ترس کښې ور اولیږواؤ یوه رقعه هم ورلیږي حکمت صاحب اووې . بس دا اقدام مې ډیر خوښ شو . حکمت صاحب ورته یو لیک سره د چرګه ورلاولیږو . غالباً مضمون یې دا سې وه:

"خوښیږ د یو څو ورځو نه دا خیال وه چې په یو دسترخوان به شملې سکرک خورو ...... خو د کمزورۍ په سبب دا سې اونه کړي شو . دا چرګ تاسو قبول کړئ".

ماسټر صاحب چرګ ورې قبول کړو . خو محسوس یې کړه او صبا ماسپخین یې په خپل نوکر یوه رقعه حکمت صاحب ته رااولیږله پکښې لیکلي وو" تاسو چې کوم چرګ بیګا ماته رالیږلی وه . ما قبول کړو . ډیره ډیره مننه . خو هغه چرګ نه وه ثابت چیلې وه . ما یواځې نه شو خوړلې نو خیال مې اوکړو . چې ورېژی به پکښې واچوم او تاسو به یې هم راسره اوخورئ"

نو نوکر به ورته بیګاله که خیرې راوړي . حکمت اؤ زهٔ خو یو ساعت چپ چاپ شو . ځکه خو داسې خوښه نهٔ وه نو حکمت صاحب د حکمت نه کار واخستو اواقرار یې اوکړو.

ماښام یې د خپل نوکر په ذریعه یوه غټه سپینه پتیله د "مرغ پولاؤ" نه ډکه پکه رااولیږلو .... چې ځوني د وارډ د اتو مریضانو ډک ډک تالی اورسیدل . حکمت چې د خوړلو نه فارغ شو . نو راته یې اووې

"اعظم "!

ما ورته اووې " جی"

" څه پوه شوې " حکمت صاحب اووې"

سنهٔ پوه شوم . چې مونږ میلمانهٔ شو او ماسټر صاحب کوربه!!!!!

**

## د ډاډرنه بیزاري

ځا ینځلس ورځې شوې دې چې د پوسچرنه پاسیدلی ووم . د دسمبر په لسمه ورځ سره د شېږو ملګرو مریضانو اؤ د یواسټنټ میل نرس چې یې زه نیتوس یا دیدار کولو د پاره په خدمت کښې حاضر شوم ...... نو ورته مې اووې اوس مو تبه بنکته [illegible] شوې ده که نه؟ ماسټر صاحب او فرمائیل وړاندې؟ نه لږه کمه شوې ده ---- دا خبره قابل ذکر ده کوم وخت چې ماسټر صاحب ډاډر ته راتلو هغه وخت یې دومره تبه نه وه " خو د اټو ورځو نه یې سمدستي ۱۰۳ درجو پورې اورسیده ماسټر صاحب وړاندې اووئیل . خو ډیر یې کمزورې کړم . ما ورته اووې دا ملیریا ده . تبه به مو لږه شي نګر غم یې دومره مه کوئ ...... الله به موړوغ کړي . ماسټر صاحب په نحیف اؤ لنډوکي آواز اوفرمائیل" په اعظم زهٔ چرته ډاډر ته راانلم . خو خپل خوا خوږو او دوستانو دلته په راتلو مجبور کړم . ما ورته غرض اوکړو . "جی" اوګورئ ځا ډاډر کښې پنځه اؤ د حکمت صاحب لس کاله اوشو . مونږ تنګیږو نا او تاسو څو هفتو کښې ساهٔ لنډي شان شوی او د خدای ډیر رحم اؤ کرم دې . چې ستاسو وزن ۱۳۶ پونډه هم دې"

ماسټر صاحب غلی شان شولو خو جواب یې برجسته راکړو" وې" ---- اوس خو به زهٔ ۱۲۰ پونډه هم نه یم . اوګوره دې تبې زه دومره کمزورې کړم ------ وړاندې ځا صحت ډیر ښه وهٔ ------ اؤ ته د دې ډاډر په خپلو شعرونو کښې داسې تعریف کوې لکه چې واته

***

دلته جولې تشې د صحت نه ډکې یکې شي
دلته سینې سپورې د راحت نه ډکې یکې شي

مونږ ورته نوره تسلي هم ورکړه او دعا یې خیرو شفا مو ورته اوکړه او راغلو..

***

## اخري پیغام

د دسمبر په ۲۳ تاریخ دریمې بجې ماسپخین د ماسټر صاحب وړوکي ځوې خانزاده جهانزیب خان ماته راغې . وې وئیل چې باباجان به مې صباله خیرې اته بجې د ډاډر نوی ایمبولنس کښې لیډي ریډنګ هسپتال پېښور ته د مزید علاج د پاره ځي ..... زهٔ یې له تا نه رخصت

اختلو دَ پاره راولپنډۍ لم ...... ځو پوه شوم ...... او ځو زړه مې په دې خبر خوږ شو ....... چې ماسټر صاحب بادر کښې شفا اونه موندله ...... زه هم هغه ساعت سره دَ خلورو ملګرو مریضانو ورروان شوم چې کمرې ته ئې ننوتو ماسټر صاحب مقیاسُ الحرارت رترمامیټر ورولې وه او ا سسټنټ میل نرس ئې دَ نبض ټوټپونه ټپ ټپ شمارله مقیاسُ الحرارت چې نرس اوکتو نو تبه ی ۹۸۰۸ درجې وه. ماسټر صاحب چې دا تبه اوکته. نو دَ ډیرې خوشحالۍ نه ئې بابو ته اووې "داواچوه چې ټل شی - یعنی لاس ئې ورسره ملاؤ کړو.


دې وخت کښې دَ ماسټر صاحب مشوځوئې خانزاده اورنګزیب خان هم دَ پېښور نه دا او رسیدلو زۀ ئې خوا کښې ځنګ کښې سم ناست ووم. دا ته ئې اووې اعظم خان ځما یو دوست ډاکټر میجر صاحب دَ راولپنډۍ نه ځما عیادت ته په جیپ کښې راغلی وو هغه ما ته پېښور هسپتال کښې دَ داخلې اختلو مشوره راکړه دې دَ پاره مونږ صبا که خیرې ځو. سبه ده چې ته راغلې زۀ تا ته دَ پښتون قوم ځقله یو خوشخبرې کول غواړم ...... دې وخت کښې دَ ماسټر صاحب سا ترتبه شان شوه" ما ورته غرض اوکړو چې،" ډیر په مزه مزه ګپ نرپه ...... دَ ماسټر صاحب آواز او صحت دَ ورانډې ورځو نه ډیر هم کمزورې شوې وه ...... ماسټر صاحب ما ته خپل کمزورې لاس راکړو ...... ځما لاس کښې کېښود ...... ما ئې هم لاس اونیولو ...... او دې وئیل.

"

سرکښې مې دې پښتون پښتون زړهٔ کښې مې ده پښتو پښتو مرم به په دې دامې دېړوندن آن تر ساء تر و تو.

ما ور ته غرض اوکړو ...... الله به موړ وغ کړې ...... دا تاسو څه وایئ ....؟ - خو ماسټر صاحب اووې" غوږ غوږ پشه ... ځما دا خبرې دَ زړهٔ په غوږو واوره. ما وې بښه جی! ...... او دَ هغوئ لاس مې دورو په خپلو لاسو نو چاپې کول ......؛

" پښتو ژبه ډیرې نه ډیرې دې کښې دَ قوم عظمت، برتری او ترقی ده. دَ میا توالی ضلې خلقو چې پلارو نه نیکونه ئې اصلی پښتانهٔ وه. پښتو ژبه ډیرېښو ده ...... نو د غه دی ...... دَ پښتون قوم نه اووتل ...... پښتون همیشه دَ پاره دَ وطن دَ ازادی سالمیت او حفاظت دَ پاره جنګیدلی دی: دې وخت کښې دَ ماسټر صاحب آواز اوچت شو ...... خو ورسره ئې سا اُ بیا لنډه لنډه شوه ........ ځما مګری او دَ ماسټر صاحب دواړه ځامن چپ چاپ ناست وو ...... چونړې قدرې هم چا نه شو کولې دَ ماسټر صاحب چې سا به سا شوه ...... نو ډیر هم دَ مړانې غیرت پۀ تاریخې پانه ئې مونږ ته شیړه کړه ...... او دَ پښتون تام مشتې ګریبانې جنګ وجدل معرکې دَ سکهانو سره چې شوی وې ...... هغې نه ئې خبر کړو دَ اکبر اعظم بادشاه معرکې چې پښتون قوم سره ئې کړی دې ...... هغې ارخ نه څوننړ تر دا اوکر ځرله ...... دغسې داسې نورو واقعې - حملو. معرکو نه خبر کړو ...... نیمه ګینټه پورې دا ارشادونه او نصیحتونه تاریخی واقعات دَ پښتون ځقله مونږ ته ئې په ډیر تکلیف سره اوښودل. ځما زړهٔ رادک شوې وهٔ ...... سترګو ته مې اوښکې راغلې زړهٔ کښې مې اووې چې بهر دِ کمرې نه اوځه. او دو مره او ژاړه چې دا زړهٔ سپک بنړه شی ...... خو حیرته مې داسې کولې شو. ځما لاس ځما دَ لاس ګوتې بچه - ماسټر صاحب په خپل غیرتې لاس نیولې وه. دَ ماسټر صاحب خبرو نصیحت به ما دو مره اثر کړې وه ...... چې دَ لیکلو قابل نه دې. مونږ تر ینه اجازت واخستو کور ما ځکیرو وچې خفه او دلګیر ترینه روان شو ...... ماسټر صاحب بیا اووې. ځما دې خبرو کښې درته څو مره یادې دې ...... ما ورته غرض اوکړو -




**تجوید قران:-** دَ تجوید مقابلې ته صرف "تسکین نغمه" کتړم دَ دې په وجه دَ خلقو توجه دَ قران دَ روح طرف ته نه بلکه اواز ته اوړي. حضرت زبیر رضی الله تعالیٰ عنه واقعه ده. دَ هغه وړوکی ځوی به چې قران اورېدو نو په ځمکه به لوغړېدو. حضرت زبیر او غبنتو او ورته ئې ووئیل خبردار ته دَ حضرت ابوبکر او حضرت عثمان نه په قران ښه نه پوهیږې. دا په عزکار فریدۀ پریږده.

(مولانا علم الدین سالک)

**دَ انسان ادراک:-** هر کله چې مونږ دَ انسان دَ پېژند دو کوشش کوو نو په دې لاره کښې زمونږ قدمونه دَ انسان دَ هستۍ نه ځکښې هم وتلي شي. دَ انسان مطالعه کونکی سا فر دپاره دَ انسان نه ځکښې هم لاره شته. انسان خو دَ الله پاک دَ حقیقتونو پلو یوه لویه دروازه ده. دَ دې دروازې اړیکې لرې کوو او زمونږ جدوجهد نه پس که چرې مونږ دننه ننوځو نو بیا یوه ډېره پراخه کونجې زمونږ مخې ته راځي. زما په خیال دَ انسان مطالعه او خصوصاً دَ انساني نفسیاتو مطالعه دَ خدائے پاک دَ شعور تر لاسه کولو یوه ډېره لویه کامیابه ذریعه ده.

(سید کرامت حسین جعفری)

**دولت مشترکه:-** "دولت مشترکه" اول اول "دَ قامونو برطانوی دولت مشترکه" په نوم یادوو. دَ دې ادارې بنیاد په کال ۱۹۳۱ع کښې برطانیې، اسټریلیا، نیوزی لینډ ایخودې وو. دَ دې ادارې غړي په تاریخ کښې کله هم دَ سلطنت برطانیې دَ انتظام لاندې پاتې وو. دَ برطانیې بادشاه دَ دې ادارې علامتی سربراه دے.

کال ۱۹۴۷ کښې دَ برصغیر دَ تقسیم نه پس پاکستان او بهارت ته په دولت مشترکه کښې دَ ډومینین درجه ورکړې شوه. په فروری ۱۹۴۸ع کښې سیلون هم په دې گروه کښې شامل شو. ډومینین نه مراد دَ دولت مشترکه رکن ملکو نه دَ اسټریلیا او کینیډا غوندې دَ خپل اثر لاندې دَ ساتلو دي. یعنی خپل حکومت سره سره دَ برطانیې عمل دخل هم وي موقف ورته "قلمرو" هم وئیلې شو. دَ دې تنظیم ملکونو ته خصوصي تجارتي او صنعتي مراعات حاصل وي. کوم ملکونه چې دَ دولت مشترکه ممبران نه وي، دَ دغو مراعاتو نه بې برخې دي. برطانیه بحیثیت خو خپل ۳۴ فیصدی درآمدات دَ دولت مشترکه دَ ملکونو نه کول خو ورسره دَ خپلو برآمداتو ۵۰ فیصدی برخه هم دَ دغو ممبر ملکونو دپاره تیاره ساتي. دَ دې نه علاوه سفري سهولتونه هم ورکوي. رکن ملکو نه اقتصادی، سائنسي تعلیمي او قانوني میدانونو کښې دَ یو بل سره لاس امداد کوي. دَ ورسک منصوبه هم دَ دغې تنظیم دَ ملکونو په مالي امداد سرته رسیدلې ده. په کال ۱۹۷۲ع کښې کله چې برطانیې، نیوزی لینډ او اسټریلیا دَ بنگله دیش دَ منلو اراده وکړه، نو پاکستان دَ دولت مشترکه نه بیل شو.

## دَ خدائي دَ مخلوق خدمت:

زما ستاسو په خدمت کښې دا غرض دې چې تاسو زما متعلق هیڅ قسم فکر مه کوئ. زه دَ خدائي یو ناچیز بنده یم. که چرې هغه زما دَ وجود نه دَ خپل مخلوق څه خدمت اخستل غواړي. نو ما به تندرست ساتي حقیقت خو دا دې چې په ما کښې ډېرې کمزورۍ دي. بهر به ما هغه محسوسولې. خو دلې دَ هغې دَ اصلاح کولو نه زه مجبور دم. او س زه گورم چې دلته په جیلخانه کښې ورو ورو دَ هغې اصلاح کیږي. بې شکه زما وزن کیمږي او بدن م کمزوری شو یدے. خو دلې زما روحاني طاقت ورځ په ورځ زیاتیږي.

(باچا خان رحمت الله علیه)

46

# پاکه پاڼه

نوا، پاڼې په خو قسمه دي
دَ قران پاڼه، دَ کتاب پاڼه
دَ ونې پاڼه، دَ ژوند پاڼه
دَ تماکو پاڼه. او دَ چايو پاڼه
اگرچه په خپل ځای په هره
پاڼه کښې څه صفت شته.
ولې زما اميد دې چه دَ
پښتونځ دوستونکی به هم په
دې خبره کښې زما ملگری
وی چه په ټولو پاڼو کښې
دَ قرآن پاڼه ډيره پاکه او مبارکه
پاڼه ده. خو ډيره موده
کيږی چې سيلۍ زمونږ وطن
ته يوه عجيبه غوندې پاڼه
دَ چرته نه راوړې ده. دا
وطن دَ دې پاڼې دومره
خوش شو. چه خپل ټول قام
قبيله يې په کلکه دې ملک
ته راوستل. په لږ وخت
کښې ئې په ټول ملک قبضه
اوکړه. او نورې ټولې پاڼې
ئې شاته کړې. دا پاڼه
دَ رنگه توره او دَ خوبه ډيره
ترخه ده. دې ته دَ چايو پاڼه
وائې. دا نن صبا دَ هر چا دکور
ميرمن ده. او دَ هر چا تن وجود
دی. خلق دې ته دومره
محتاجه دي چه بې دَ دې
دَ اجازت نه دَ کوره باهر ته
نه شی وتلې. بنوا به خلقو
وختی سحر سترگې په جماعت
کښې غړولې. او دَ هر څه نه
پخې اگاهو دَ قرآن پاڼې
شکولې. خو نن صبا دغه ځای
دَ چايو پاڼې نيولې دې. اوس
هم خلق وخت پاسی خو سترگې
په چايو غړوي. او ترڅو چه
ئې دا شکل کړی نه وی. نو دَ
کور نه باهر ته وتې نه شی
عبد مشرانو به ويلې چه دَ فرنگيانو
لوې لاس دې. هر ځای ته رسی
خو دَ هغوی خورانو به ورځو
کښې دَ فرنگيانو بادشاهی وه
هغوی خبر نه وو چه دَ دې
پس به دَ چايو بادشاهی راځي
او هغه به داسې بادشاهی وی
چه سکهانو به هم داسې نه
وی کړی. ځکه چه دَ سکهانو دَ
ويرې خو خلقو تش بانگ نه شو
ويلې نور مونځ او دس خو به
ئې کاوه. خو څيگر ورمسلمانان
هم شته چه دَ چايو دَ يوې
پيالې دَ پاره دَ قرآن دَ ديرشو
سيپاروسه دا تيې. او دَ فرنگيانو
له دَ څه لاس دی. لاس خو
دَ دی توری پاڼی وايه چه
جماعت ته درسی. عجيبه تر دا نه دا
مدرسه تر نه ده حاصله دَ کالج
دغه حال دی په دفترونو کښې
دا پرته وی. نه په عدالت کښې
دا حکم کوی. لندن ١٤ واورده
ئې داده چه کور په کور کلی په
کلی او ښار په ښار دَ دې
نوبت غږيږی. دَ فرنگيانو لاس
له به چيری سوات. دير باجوړ
نه ځې. او تيراه ته رسی خو د
چايو لاس بيا چترال او کابل ته
هم رسيدلی دی. د هندوستان
په کلو کښې داسې هوښيار به
ښاخوا نه وی. چه هغوی ته زړوسه
بورډ ده او پته نه لگی چه په
دَ چا بادشاهی ده. خو دَ چايو
فتنگ هغوئې هم منلې دې. هندو
دی که مسلمان. خان دې که
غريب. نر دې که ښځه. استاذ
دی که شاگرد. امام دې که مقتدی
قاضی دې که مفتی. حاکم دې
که محکوم. عرض دا چې دَ
ټولو سترگې چايو ته کوږې
دې. اوس تاسو په خپل زړه
کښې انصاف اوکړئ. چې لاس
دَ چا لوی دې.
مثل کانگرس دَ فرنگيانو حکم شو
ورځ او نه مانه. نو دَ هغوی

نه ئې یوده خطاکه ،آخر په
نیمه ئې ورسره صُلحه اوکړه.خو
زه به ئې هله اومنم چې دوئ
دَ چایو حکم مات کړي.خیر
دی مسلم لیګ دې هم ځان سره
کړي. ځکه چه دَ دوئ هم هر
چاته بدې وهلې دي.وزارتونه
دې هم ورسره شي. جنډې دې
هم ورسره برغې داواخلي. اوکه
وسلې تې ضرورت شو. نو دا
خاکسارانو نه دِ بیلچه قرض
او غواړي. خوولې یقین هې پرې
دېرنه راځي. داسې ځوان زهٔ
نه وینم چې دَ چایو حکم به
مات کړي. دا دَ دې توري
پانړی هغه تو په دبن به ده
چه هرځوک ترې امان غواړي
ره یواځې دَ چایو رعب نه
دي چه په خَلقُ ناست دی
دې کښې ډیرې فاندې هم شته
دي. که صاحب تې مخکښې
کړي. نو خانصاحب لاخان
بهادر به شي. که مقدمه ګټل
غواړي نو مجسټریټ تې وړاندې
کړه. که په وکیل یې او ځکې
نو عرله به دې هسې مقدمې
کوي. که تهانه دار له ئې وړکړي
نو تپوپک تماچه به درلداوکړي
که دَ تحصیلدار او پټواری دَ
ستونې تېره کړي. نو دَ پرډې
مزکې انتقال به درپسې اوخیځي
که دَ مالیې په سپاهې باندې
اوڅکوې نو په هاړ پیشکال کښې
به دَ حوالات نه بچ شي. که دا
اُستاذ خلق پرې لوند کړي. نو
انسپکټر خوک دې چه تافیل
کړي. که دَ انسپکټر مخکښې دَ
چایو لوښی اوکرنګوې نو داسې

مدرسې ته به دې بدل کړي
چه دَاکځانه به هم ورسره وی
که قاضی صاحب ته ئې وړاندې
کړی نو شریعت به اوګټې. که
ګواه باندې دِ اوواهلې نو تر
شیشن پوری به درله دَ دروغو
ګواهي کوی. اوکه دَ ودت خاوند
باندې دِ نوش کړی. نو که
صدارت غواړې هم. که جرګه
کښې راځې نو ستاخوښه. اوکه
ممبری غواړې نو په مخه به
دِ سپرکټ بورډله کونسل
ته ځې. او شبه خودَ تهانې
خان خیل دِ ی چه دَ چایو په
یوه پیاله روغه ډله لاندې
او باندې کړي.

۵ چائې خلق په ډیرو طرزو
څکی. څوک دَ ګړې چایې څکې
اوڅوک دَ مصرو. څوک خوږه
څکی. اوڅوک ترخه. څوک یې
نرمه څکی او څوک ټینګه. څوک
یې کور څکی او څوک یې په
دکان کښې څکی. دا د هرچا دَ
زړهٔ منلو خبره ده. او دا پتولی
ډیرې بنې چائې دی. خو په
تیره تیره کومه چائې چه سړی
په سټیشن کښې څکی دَ هغې
ثانی نشته دغه چائې نو خو
ګرمی پیدا کوی. او نه یخنی.
دغه نه دَ ګړې وی او نه دَ
مصرو. نه یخه وی نه ګرمه
غرض دا چه نه او به وی او
نه چائې

۶ خو چایو هم ډیر کبر راغښتې
دی. که دا چا د بیګاه وی او
دَ صبا نه وی. دا ترینه خپله
مالیه غواړی. په یتیم دا
زړه نه سیزی. په غریب دَ

دې رحم نه راځي. مسافر له
سره دا رعایت نه کوی خو داسې
اوروچه دَ ظلم کاسه تل نسکوره
وی. ګورو به چې په چایو
به کله اوړی؟

نن مونږ او زمونږ ملک
ولے په یو داسے بدترحالت
کښې یو. ولې مونږ دِ په
دُنیا کښے ذلیل او سپک یو.
دَ دې وجه داده چې نن زمونږ
هریوکس دَ خپل ذاتي ترقئے
په فکر او کوشش کښې دے
زمانه ماته ده. که ملک تباه او
قام برباد شي. خو ولے زمادې
دَ یو پیسے فائده وشي.
خلق دَ قربانو او کارکولو د پاره
تیار نه دی. ځکه خو مسلمانان
امام صاحب ته او هندوان او تار
ته په انتظار کښې ناست دی.
دَ بچي هغه قامونو هم دغه
نخښې دی. چې پخپله کارنه کوی
دَ بل په تکیه ناست وی.
باچاخان رحمت الله علیه کړنو
خط څخه برخه۔
۱-۸-۳۶

## حق

دَ پښتو نخوا زمکې اباد دی او په
قدرتي خزانو او معدنیاتو بنې مړې
دي لیکن دَ پښتنو دَ ترقۍ او تعمیر دَ پاره
م استعمالیږي: اروابنا د باچاخان

# د ناکولو حوصله

ممتاز رحمان

دَ خپل حکومت په حقله چینیان "وفاداری" او" بامروت دی" دَ دغه خبرې په ځواب کښې یادَ ټو کار دپاره "نا" کول هغوی دپاره ډیر گران دی.

دوان چنگ دینا ده چې هغه دَ کال ۶۷-۱۹۶۶ء ثقافتی انقلاب په دوران کښې دَ یوې واقعې نه ډیر متاثره شوې دو. دغه ورځو کښې هغه په کلوکښې کارکولو. یوه ورځ دَ هغه دَ پیداواری ټیم دَ انقلابی کیټې دائریکټر، دَ یوې نرې برستنې دَ غښتو دپاره هغه یو دهقان له ولیږلو. دَ هغې دهقان په حقله داخبره مشهوره وه. چې هغه کره دَ کال ۱۹۴۹ء نه هم زړه برستن پرته ده. دغه برستن دَ هغې ټیم دَ کلی چه یوَ نمائش شو ردم کښې کیښودل غستل. دَ دائریکټر مقصد دا وو. چې دَ ازادۍ نه اول خلقو په ډیره تنگسیا کښې ژوند کولو. خو ولے دَ هغې دهقان کره هم دغه یوه برستن وه. چې هغه . دَ کال ۱۹۵۰ء دَ عشرې په شروع کښې دَ زرعی اصلاحاتو دَ تحریک په دوران کښې هغه له ورکړې شوې وه. نه چې دَ ازادۍ نه اول ره تکه

ځکه چې دَ دائریکټر چنال دو. په دې وجه هغه خالی لاس واپس دائریکټر له راغلو. ولې چې دهقان کره هم دغه یوه برستن وه. چې هغه به هغه دَ ضرورت په وخت پکاروله.

دائریکټر ډیر خفه شو او پخپله دهقان له ورغلو.

ماته وئیلې شوی دی. چې ته دَ برستنې ورکولو نه انکاری یې!

دائریکټر دروازه پرانستلو نه پس په نرمه لهجه کښې دَ دهقان نه پښتنه وکړه.

هغې مخبر تا ته څه وئیلې دی؟ دهقان ډیرې واخستو. ماخو صرف داوئیلې وو. چې دَ ځوی په ماهلاس ورپسې برستن درو لیږم. شاید هغه زلیے زما په خبره نوو پوهه شوے.

او دغسې هغه برستن شوردم ته ور ورسیده. او دائریکټر وانک ته حکم وکړو چې هغه یو کپشن دلیکی.

دَ ازادۍ نه روسبې یو دهقان دا قسمه برستن کښې پښیدی.

غالباً هغه لید لې وو. چې وانک چنگ دغه څه لیکلو ته تیار نه وو. په دې وجه دَ خود کلا محه پرانداز کښے دکو نه یدی. څه حاقت دې شل کاله تیر شو. په اخر کښې دَ ازادۍ نه اول استعمال شوې برستن له کومه راشی؟

دائریکټر په دے خبره پوهه وو چې هغه دَ ازادۍ نه روسبې استعمال شوې برستن نشي ترلاسه کولې. هغه په دې هم پوهه وو. چې دا تیکې چې دَ دغې دهقان نه واخستې شی. نو دَ هغه دَ ټبر دپاره بیا دَ اغستو ورستو هڅه نه پاتې کیږی. او وانگ پوهه وو. چې اوس هغه څه لیکی صرف یو حاقت ده اوس دا دریې داپره کسان دَ "نا" کولو نه ولې ویریدہ او دَ خپل ضمیر ملامت ته یې سرو نه ټیټ نیولی وو.

دا خبره ډیره مو ده پس وانګ ته معلومه شوه. دَ حاکمانو "نا" کولو کښې ډیرې خطرې دی. کیدیشی کمها ئریکټ "ناه کړې وے. نو دَ نوکری به یې تلې وه. که یو دا دهقان "نا" کړې وے نو امدادی غنم پرې بند شوی وو. او وانګ پخپله انکار کړې وے. نو دَ بیکار دپاره به لیږلے شوې وو. په دې وجه دَ دریواړه په دروغ وئیلو مجبور وو.

هر کله چې وانګ په دې خبره ورسیدو نو ور ته احساس وشو. چې "نا" کونکو دپاره دَ هغه زړه کښې نوره مینه پیدا شوه. یوه زمانه کښې ووئیلې

شو- اپاده کښې چې څومره اضافه کیږي نتې شه ده -

دَ مش یانو ماهرمین چو وڅیل "نا" دَ موالی کمیونت وانټینګ هالو نه ډیر دَ مزي دغه - مارشل چهنګ ځي کواځ ووئیل "نا" چین شاځ چي (صدر) همیشه دپاره دَ کیونسټ پارټیه نه وکښل پکاردی - چین شاوس نو چې یوکس ووئیل "نا" ثقافتي انقلاب "بنه دې" یوې ښنا کے زنانه چانګ ووئیل - "نا" صغه خلق چې دَ خپل ضمیر په اواز دروځي تل دَ احترام قابل وي - مشهور ادیب لوشن دَ داسې خلقو ډیر احترام کولو او ورته به ئې دَ خپل شه رګ وئیل - چینی قام دغه دَ شه رګ تمه خلقو دَ نشتوالی په وجه ډیرتکلیفونه اوچت کړي دي -

دَ یوې پلیټنې لخه معلومه شوې وه - چې دَ ثقافتي انقلاب دَ شروع کیده نه درې څلور کاله پس خلقو ته دا احساس شوې وه - چې دَ مئوي عظیم ترین معلم " ماوزےتنګ غلطی کړې ده - خود ئې هچا دانه ښکاره کوله اؤ که ښکاره کوله ئې هم نو خپل ډیر لوې قابل اعتماد دوست ته - دَ خپلې وفادارئ دپاره هرکس په دغه رقص کښې شامل وُو - اودَ ثقافتي انقلاب مدحې وئیلې -

دا ټک په اکثر اسویلې کول - اودا به ئې وئیل - که چرې دې ټولو دَ کرد کښې دَ "نا" کولو همت وې نو دا ټول څه به دَ لسو کالو جاری نه وُو - اصلاحات اؤ پرانستې دروازې پالیسه سره چې کوم عظیم تبدیلي ځ ته راغلي ده - هغه داچې اوس خلق دَ

مختلفو لیبلونو نه - چ شوی دی . اوَ دَ پیهو لګولو بیش کیږي اؤ خلقو "نا" کول راخستي دي - څو ورځے دَ تاریخي وجوهاتو په بنا ډیر خلق په دې خبره نه پوهیږي - چې "نا" څنګه ووائي - دَ روان کال په مس کښې کله چې وانګ په یوه عدالتي مباحثه کښې شریک شوې وو - چې دَ اخبار دَ ادارې دَ حومت دَ - چ کولو په لړ کښې وه - نو ورته ډیر سخت احساس شوې وو - چې دَ "نا" کولو د علم نه لرلو په وجه چې کوم نتیجے را مخکښې شوی دي - دَ هغو په حقله پراسیکیوټر وئیلې وو - چې اخبار دَ خپل غلط رپورټ دَ منلو په اعتراف کښې یو کال اول اعتذار شائع کړې وو - ولې چې اعلی متعلقه محکمې ورته داسې حکم کړې وو - اودَ اخبار اوس هم دا موقف دې چې ډیوټننګ صحیح وو - که چرې په دې خبر وې چې دَ اعلیٰ متعلقه محکمې فیصله غلطه وه نو بیا ئې دا مچ حضوری ولې کوله .

دَ اخبار مقدمه بیلل دَ خپلو کړه میوه خوړل وو - یو روسی متل دې که یُو سړې تا وهي نو فوراً چغې وهل شروع کړه - که دَ وهلو خوړلو نه پس چغې وهې نو څوک به ئې نه اوري .

دَ مضمون لیکو نکي په قول ش چین کښې دَ اصلاحاتو عمل یو داسې مرحلې ته رسیدلي دې - او په داسې مرحله کښې ضمیر اؤ حق اواز دَ اوریدلو دَ دبانڼې دَ عمل کولو دَ مخکښې نه نور هم ډیر زیات ضرورت دې - که چرې ای ځائې کښې بدعنوانیه په نظور راځي - نو شاید دَ دے وجه داوي چې هغه ځائے کښے ډیر جی حضوریان را پیدا وي -


دَ یُو جرمن سائنسدان اؤ فلاسفر

چې اتلسمه صدۍ کښې ژوند کړې وو - وئیلي دُو -

موږ د نن تاریخ نشو جوړولې ولې چې دا پرون جوړ کړې شوې وُو - خو د لے موږ دَ راتلونکی صبا دپاره تاریخ جوړه ولې نشو - دَ راتلونکی صبا دَ اصلاحاتو دَ اثر ناک نفاذ دپاره نن که چنیان څه غلطه خبره وینی نو هغوله په واضحه توګه باندې "نا" کول پکاردی - زما په خیال دَ دانګ چنګ خبره په موږ شته کیږي .

زما خو هم هغه یو پیغام دې اؤ هم هغه یوه خبره ده چې دَ خدائے دپاره پښتنو تاسو یُو شئ - خپل کور جوړ کړئ دا پرې جنبې ذاتیات اؤ دُښمنۍ پریږدئ نو دین به موهم ښه شي . او په دینا به هم اباد اؤ اسوده شئ . ماچه دَ خپل توفیق او طاقت مطابق څه مات کوږ خن مشکلات دې خپل ډیر بخت او غریب قام کړے دے - هغه صرف دَ خپلې مینې محبت دَ مجبوریه نه اؤ دَ الله په خاطر کړے دے - ماسره که څه غم دې هغه هم ستاسو دے - اؤ سودا ده تو ستاسو دَ باچاخان رحمت الله علیه دَ لیک یوه برخه -

۳-۱۰-۱۹۳۶




نن په میرویس بانړه کښې لوړې واړه ډېر غمژن وو. دَ هر چاپه مخ دَ پریشانۍ یوه خړه سپېره دوړه پرته وه ..

او بیا هغه کسان خو ډېر زیات خپه وو. چه کومو دَ ګل غوټې په وجه دَ میرویس بانړې خوشحالي او ترقي لیدله.

هغه په رښتیا ګل غوټۍ وه. دَ هغې دَ علم خوشبویي هر کور ته رسیدلې وه. هغې په میرویس بانړه کښې دَ علم داسي شمعه بله کړې وه. چه هر کوره نرې رڼا اخستله. ولې نن داسي معلومیده لکه د غه شمعه کښې دَ ژوند تاب نه وی پاتې شوې

دَ هغې په حقله قسما قسم خبرې کیدې. خو ډېرو کسانو دا یقین وو چې ګل غوټۍ پاګله شوه.

او دغه ګمان رو رو یقین ته رسیدو. ځکه چې هغه دومره مینه ناکه وه. چه پردي بچي به ترې لکه دَ پتنګانو راچاپېره وو. او بیا خپل ځوې ... !

خو په هغې دومره ګران وو لکه دَ شین اسمان ځانګې. هغې غوښتل چې زما ځوئ دِ ژوندی وی. او تل ترتله دِ ژوندی وی او داسي پالنه دِئ اشي. چه پښتنو ته دَ امن او مینې داسې سبق ورکړی. چه دَ دوئ نه دَ ترېوړ ولې او تربګنۍ بدخوی ختمه کړی او بیا دَ هغې ورځې نه خوئ دَ جنګ او ثوبلې نه نوره هم نفرت پیدا شوې وو. دَ کومې ورځې نه چه دَ هغې خاوند دَ صلحې په کار کښې شهید شو. او دَ مرګ نه مخکښې ئې ګل غوټې ته دَ سلګو په حالت کښې اویل

ګل غوټې ...... چه میرویس درنه ...... ضد ی . . . ... پښتون نه شی . . . . . . ., . . !

او دغه وصیت وو چه ګل غوټۍ دَ خپل لس کلن میرویس دَ پاره ډېره توجه ورکړې وه. هغې غوښتل چه میرویس دِ پښتنو ته دمینې او امن پیغام دنوبنه شی. او دَ ضد په جنګ جګړو کښې چه کومه وینه تو یېږی نو هغه دِ دَ خپلې خاورې او قام دَ ښیګړې په کار راشی.

ولې نن څه عجیبه غوندې کار اشو هغه ګل غوټې دَ اوده یوه ګرمه غصه شوې لسه شوی وه. هغې خپل ماڅوم خوئ بند په بند ټوټې وو او په خپل کور کښې ئې دَ دیوا او دیل ګړی او. او که چرې دَ میرویس په هیڅناکو کړیکو کور د ملت نه وې راجمع شوی نو کیدې شو. چه میرویس بې دغه اور ته اچولې وې خو ټول کلي را چلید لې وو ګل غوټې ئې نیولې وه. او هغې به هم دغه په غصه کښې وییل

چه ما پرېږدی چه میرویس اور ته واچوم. ولې هغه چا ګل پرېښودله. او دا خبره لږ ساعت کښې خپره شوه چه ګل غوټې پاګله شوه. هغې له دَ کلي مشران ملیان. سیدان راغونډ شوی وو. او ټولو دا کوشش کولو چه آخر دا ولې اُشو خو کوم وخت چه ورته فردوس استاذ اوئیل چه.

ګل غوټې چه ته خپل ځوئ سیزې نو دَ ځوئ قاتله به شې؟

د غې خبرې سره هغې را غلو خلقو ته او کتل او بیا ئې فردوس استاذ ته اُویل.

استاذ تاسو څه اوئیل.

ما اُویل چه که چرې خپل ځوئ

...میزی فوز خوي قانله مبشی.
فردوس استاذ جواب ورکړو.
ولې دا ګناه ده .....؟ هغې لږ
په حوصله کښې سوال اوکړو.
هولې په اسلام کښې دُښمن
هم په اور کښې سېزل بند دی
بیا دا خبره خو څه نوي غوندې
ده. هغه نوره هم متجیل ه شوه.
او هغې بیرته جج داسې هسې
کړه. لکه چه دُ ګل غوټۍ رنځ
په بنه کیدو دی.
دې لې دا خوز موندې په اسلام
کښې ځوانۍ وه.
فردوس استاذ جواب ورکړو
ګل غوټۍ خپل ببرو ینته په
دوابولاسو دُ تندی نه شاته
واړول. یو خوا بل خوا ئې داسې
اُکتل لکه چې خپل حوړ میروبس
ګوری بیا ئې فردوس استاذ نه
مخ کړو. او دُ خودو خلقو په لهجه
کښې ئې اُخيل.
استاذ زه پوه شوم چه ستاسو
بیا دُ پاګلې خیال را غلی دې
او تاسو ټول ځانونه په خوده
ګنئ. خولا دُ خپل حوړ.
قاتله شوی نه یم. او تاسو
ټول دُ خپلو ځانونو قاتلان یئ
قاتلان یئ.
دُ هغې بیا سترګې سوې شوې
داوخت داسې ښکاره شوه.
لکه چه مرض بیرې بیا حمله کړې
وی.
بیا ئې د غې ګنې ته اُکتل او بیا
ئې په غصه کښې تپوس اوکړو.
راته اووایئ چه تاسو زلیان
څنګه شو؟
هغو ټولو یو بل ته داسې

اُکتل لکه چه په دغه خبره
څه پوه شوی وی. ټول لکه
دُ مړو چپ شو. او مزکې ته کتل
چې هغې بیا دُ خواست په لهجه
کښې اُخیل.
راځئ چه هر یو خپل میروبس
داوړ تنیچ کړو. په دغه کښې

ناڅاپه په مخامخ غر کښې ورې
شوی او دا وخت دُ هر یو پلار
او مور زړه داسې سر ټیکه اوکړو
لکه چه خپل میروبس ئې ځنچلې
په اور کښې سیزلې وی. او ګل
غوټۍ خپل میروبس په سینې
پورې کلک اونیوو. —

لطیف وهمي

کله مُل له خُدایه غواړی کله مُل شیخ
مرامی غوندِ لګیا دې کړی قُل قُل شیخ

درست سپرلی کښې ې یو ګل په نصیب نه شه
له خزان کړی اوس طمع څه دُ ګل شیخ

یُو غرض ې دې نیولې او خطا دې
کله زلفې یادوی کله سُنبل شیخ

غلمان حورے بہ ې نصیب شی باور نکړم
چې ویریږی له اور بل او له کاګل شیخ

شین څادر ترې سیلی یوره ګیره هم ځی
کہ وړ کړې دې ته ګوره څه چار ګل شیخ

زهٔ ې کال ته وم په طمع چې به ګل شی
نن ې دریمه ده شو صبر وائی ٌقل شیخ

دُعیسیٰ خرګی ترې لاړو میدان یُوړو
خرخرې نه اوز ګار نه شو دُ دُلدل شیخ

دُ سحر ختلی نمر ماښام کښې پریوت
بله شمع له باد ژغوری په منګل شیخ

نهوئځ روژه کړی زره کښې ذکر دُ لیلیٰ هم
نور څه غواړې له وهمَ شکی مُغل شیخ

# پښتون ته هرکلی

په خزان شو ځنکدن چې پښتون راغې ◆ پسرلې شو په چمن چې پښتون راغې
پښتانه به تول خواره وارهٔ راغونډ کړی ◆ راغونډ لوله غمژن چې پښتون راغې
دَغازی فخر افغان دَمینې ناز دې ◆ پښتنو باندې مین چې پښتون راغې
دَمیاد پنجره کښې بند وو دَ مدونه ◆ داتپوس له زمونږ تن چې پښتون راغې
عظمتونه دَ پښتو به راڅرګند کړی ◆ شان دَبې ګورو کفن چې پښتون راغې
مستقبل راته له ورایه بیا روښان شو ◆ ساا و روح زمونږ دَتن چې پښتون راغې
دَوطن دَغدارانو وارخطا شو ◆ سمندر کښې یو موج چې پښتون راغې
څرنګ روغ به هر پرهر دَپښتونه شی ◆ بیا علاج لره خوږمن چې پښتون راغې
هره سیمه دَوطن موسکی موسکی شوه ◆ خپل خدمت له دَوطن چې پښتون راغې
هم عقاب او هم شاهین ئې شو نظر کښې ◆ دَاغیار په نشیمن چې پښتون راغې

دَفولاد قلم به هم شی یو بحیر بیا
ناز دَ شعرو دَسخن چې پښتون راغې

# دباچاخان پیغام

اروابناد ولی محمد طوفان

زۀ پښې ایله اوسر تور درپسې گرځم
چم په چم او کور په کور درپسې گرځم
ټول وطن مې کنج په کنج درپسې پڅ کړو
تۀ وینبیږې زوک اوشور درپسې گرځم
هیڅ خبر نه شوې دځانه څوک یې څه یې
لا تر اوسه دهاتی غوږ کښې اوده ئې
ستا دپاره هر یو اور ته مې دنګلی
چه دلسوې لوې کور درله گلذار کړم
سره زخمونه داغزیځو مې زغملی
چې خزان له منځه لرې شی گلذار شی
هر آزار مې په خندا خندا قبول کړه
چې دا ژوند پښتونه تا لره بازار شی
بیره سپینه شوه زما په تور زندان کښې
ورو نوا څه راسره نهٔ کیږی کنعان کښې
زه کتم درله حقونه چې حقدار شئ
ته حقونه دغدار په خوله کښې ورکړې
زهٔ د تورو غرونو کانی کړم لالونه
تهٔ لالونه دښامار په خوله کښې ورکړې
زهٔ چمن درله په سرو گلو سمور کړم
تهٔ گلونه دانکار په خوله کښې ورکړې

ستا د پاره پردی غشي مې تکور دي
ځکه دا ښکلي وطن دربانداې اور دي

که مظلوم ئې د ظالم د ویرې مهٔ مره
راشه ماسره ملګرې شه ژوندون یم
د مراد ښکلې لیلیٰ ته به دِ بو ځم
دا په دې چې زهٔ د سرو وینو مجنون یم
ته او زهٔ چې سره یوشو نو به قام شو
راشه قام شو ته پښتون ئې زهٔ پښتون یم

پښتانهٔ که چرې جمع شی او قام شی
د نړئ د هر یو قام به ورته پام شی

خپلې داړې به هم ستا په وینو سرې کړی
لیونیه ! په لیوانو پسې مهٔ ځه
د بقا او ژوندون په طمع طمعه
ازمیلو قاتلانو پسې مهٔ ځه
چې پخپله ګړنګونو ته روان دی
دغه هسې ګمراهانو پسې مهٔ ځه !

په دنیا کښې د هغو خلقو دوام وی
چې ئې خپلې تراوې او خپل امام وی

الهٔ غرزنګ؛

### ...ې هر قدم

ـه او غیر شعلی کوه . زه پیدا طریقه
د انګریزانو د سختو کړکو ښوګو ته کوم
و کال ۱۹۲۹ء د سپر یا شت وه . په دغه
کښې د کانګرس سالانه اجلاس وو . د
سرحد ډېر کسان د اجلاس د لیدو په
غرض لاهور ته تللي وو . د اجلاس
د تنظیم کارروائۍ نه زمونږ خلق ډېر
متاثره شوه . د لاهور نه په واپسۍ
اتمانزو کښې یوه لویه جلسه جوړه
شوه . هغه په جلسه کښې ما کوم تقریر
کړی وو هغه ځه دا سې وو .

تاسو خوور ده یې د هند تاریخ
خوبه پېژنئ چه ټول هم را بیدار شوي
دي ، او د خپلو تاریخ سره اوګه په اوګه
کار کوي . بر خوري نرخانه ته وکوري
څومره لوی سیلاب راروان دی . او دا
قامونه به څوک دا سیلاب یو ځی . انګریز
وائي مونږ هندوستان د توره په زور
اخستی دی . او مونږ به پرې حکومت
کوو . هندیان وائی . دا زمونږ وطن دی
مونږ به ازاد ؤ . او حکومت به پرې کوو .
او سلمانان د غه چې د غفلت په خوب ودهٔ
دي ، زه تاسو ته وایم . ای پښتونو! تاسو
څه کوئ هم دغسې د غلامۍ ژوند ته
خوښ یئ؟ که ځانونه د دې وطن مالکان
یئ نو راپیچې ملاګانې د ترقۍ . او دا وطن
هم ازاد کړئ . دا وو هغه خدائی خدمتګار
په د تحریک خدائی خدمتګار جوړیږي ـــ

کښېښودې ده . او بیا ترمرګه پورې په پښتانه مقیده
خدائی خدمتګار تحریک وو . چې له دېرش
سپې ورته خپل تمام باچاخان خطاب وکړی
وو . او ټوله دنیا بیا هم په دغه نامه پېژندو
دغه ستر پښتون خدائی خدمتګار ، د
ستمګارو دښمن ، په انادۍ مین دانشور ،
مفکر ، د سولې پیامبر په ۲۰ جنورۍ پاڅ
باندې شپږ بجې په کال ۱۹۸۸ء د پېښور
جرینی هسپتال (لیډی ریډنګ) کښې
د ابدی ارام په خوب اوده شو ـ
( اِنَّا لِلّٰہِ وَاِنَّا اِلَیۡهِ رَاجِعُوۡن )

## پاڼه . د غټو مجرمانو د ائرې

جیل ته نشی راتلای ځکه چې د جیل
د ټولو افسرانو هم په دروازه کښې
تالاشی کیږي . دغه جیل انګریزانو
د خپلو دښمنانو سیاسیانو له جوړ کړي
وو . خو د یرونو بدمعاشان هم ټول دغه
جیل کښې دی ، او د څو ورځو کښې
ترې بدمعاش هیره کړی . دغه جیل
ته د یح جیل وائي .
( نوربیا )

## پاڼه . د پښتو نیک دود

ژبه بللې وه .
د باچاخان د ستوی نچیانو نه
علاوه د پښتو ژبې په ادبي او
سیاسی پنګه کښې د عصري غوښتنو
په مطابق علمي او سایښنی تحقیق
کارکړي نه دي او که په پوره ډول

څه کارشوي دې نو هغه په موجوده
پښتنستان کښې شوي دي پښتانه
چونکې د غیرفطري تقسیم د کبله
د بېلو بېلو سیاسي نظامونو او حکومتي
چوکاټونو کښې ژوند کوي ځکه د
بر پښتنو په ژبه د پارسي ، عربي
نه علاوه د پرانسي او الماني کافي
تاثیر شوی دې او د لرو پښتنو
باندې د انګریزۍ او اردو ژبې
پراته دی زمونږ د پرې ژبې سره
عدوت او د بښنې نښته هره یوه
د جدا جدا قامونو د اظهار ذریعه
ده ځکه د تمام په ژبه کښې د هغوي
نوي کول له د ټولو علومو د د کړي
بند وسبت پکار دي .

# یو شعر

په شارو زړونو ، بارانونه چې د وینو وشي
سپرلي راوینې شی ، لاره وکړي سر ګلونه وشي

دا علامې جوړې د سپرلی ښکاری
چې ځای په ځای د الیونی ښکاري

څوک له نظره شو ، چې غره په سمه
هر خوا چې کورې سپیلنی ښکاري
( محمد خان کاکا )

## پاڼه . د پښتنو پښتوت

لوری نهٔ وو . خپله هاغے قادرمطلق خدائے طرفته وو . د چا د مخلوق د پاره چهٔ دے عجیبه انسان د
خدائی خدمتګار تحریک شروع کړے وو . او د دغے خدمت په عوض سامراج او د سامراج ملګرو د تل
په کانو ا پښتے وو . خو آخر معلومه شوه . چهٔ د خلقو کانړی مات شول
خو دوے قلندر د کړی ماته نهٔ شوه . او هم دے ته وئیلی شی د تاریخ فیصله

CS CamScanner

# د پښتون
# مستقل لیکوال

## (۱)

(۱) با چا خان
(۲) فضل محمود مخفی
(۳) عبدالاکبر خان اکبر
(۴) میاں احمد شاه
(۵) امیر نواز خان جلیا
(۶) خان میر هلالی
(۷) گل احمد
(۸) فضل الرحیم ساقی
(۹) میاں سید رسول رسا
(۱۰) استاذ عبدالمالک فدا
(۱۱) تورسم خان بابا
(۱۲) غلام حیدر حیات
(۱۳) فضل حق شیدا
(۱۴) حبیب الله کاکا
(۱۵) سعادت خان جلیل
(۱۶) ارباب محمد اسلم شرر
(۱۷) عبدالحکیم ستی
(۱۸) سید سلطان احمد

انو رغلی

## (۲)

(۱) ماسټر عبدالکریم
(۲) خان عبدالغنی خان
(۳) قاضی عطاء الله
(۴) عبدالرؤف قربان
(۵) مرزا تاج محمد خاموش
(۶) ولی محمد طوفان
(۷) عبدالقدوس تندر
(۸) عبدالحنان بجلی
(۹) شاه محمد خان بیگی
(۱۰) کرامت شاه فولاد

## خویندې

(۱) الف جان ختکه
(۲) سید بشری بیگم. مشهوره په ش. ب. ب

## قلمی نامه مدیران

لیونې فلسفی اپریل ۱۹۲۸ء نه ۱۹۳۰
خیر لوڅې خادم محمد اکبر
مستقل عنوان سنه ۱۹۳۱ء نه ۱۹۴۷ء دسمبر
ګدړې ودړې
ننني دنیا عبدالخالق خان خلیق
بخری

2/10/89

کتاب کا نام ________
سیریل نمبر ________
فون نمبر 0335-3199661




| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اجرا | اپریل | ۱۹۲۸ء | فیرنګواله کښې | چلوونکی مدیران |
| بندول | اپریل | ۱۹۳۰ء | 〃 | باچاخان ، محمداکبر خادم |
| دوباره اجرا | مئی | ۱۹۳۱ء | 〃 | باچاخان ، حکیم عبدالخالق خلیق |
| دوباره بندول | دسمبر | ۱۹۳۱ء | 〃 | باچاخان ، 〃 |
| دریم باره اجرا | مئی | ۱۹۳۸ء | 〃 | باچاخان ، 〃 |
| دریم باره بندول | جنوری | ۱۹۴۱ء | 〃 | باچاخان ، 〃 |
| څلورمه اجرا | | ۱۹۴۵ء | 〃 | باچاخان ، 〃 |
| څلورم ځل بندول | | ۱۹۴۷ء | 〃 | باچاخان ، 〃 |

اخر د ازادۍ نه پس

په ۱۹۸۹ء اکتوبر کښې اجرا

مدیر مسؤل خان عبدالولی خان

مدیر میرمهدی شاه مهدی